







# افغان ملي پوځ: له مالي اړخونو هاخوا د پايښت پر وړاندې پرتې ننګونې


لیکوالان- دکتور انتونیو جیستازی او پیتر کوینتین



سلواغه ۱۳۹۲


۱۲ کاله
باکیفیته څېړنه

څېړنې د ښه
افغانستان
لپاره

AREU

د افغانستان د څېړنې او ارزونې واحد
د تحلیلي خپرونو لړۍ

# افغان ملي پوځ: له مالي اړخونو هاخوا د پايښت پر وړاندې پرتې ننګونې

لیکوالان- دکتور انتونیو جیستازی او پیتر کوینتین

سلواغه ۱۳۹۲

ژباړن: ګلستان شینواری

طرح او دیزاین: احمد سیر علمیار

د خپرونی کود: ۱۴۰۳P

© ۱۳۹۲د افغانستان د څېړنې او ارزونې واحد. ټول حقونه خوندي دي. دا خپرونه ښايي بياځلي توليد ، آرشيف او د غير اقتصادي موخو لپاره ولېږل شي، چې په دې صورت کې يې د ليکلو اعتبار په ليکوال پورې اړه لري. که دا خپرونه بيا ځلي توليد ، ذخيره يا د وېبپاڼې له لارې خپرېږي، د افغانستان د څېړنې او ارزونې واحد وېبپاڼه www.areu.org.af بايد ورسره وي. د موادو د کاپي کولو لپآره بايد د خپرندويه مرکز ليکلي اجازه واخيستل شي. په لاندې برېښنا ليک او ټلېفون ليکلي اجازه ترلاسه کولی شي.

## د لیکوالانو په اړه

ډوکتور انټونیو جیستازي د لندن په کېنګ کالج کې څېړونکی دی. نوموړي په ۲۰۱۳ کال په افغانستان کې د پولیسۍ دندې تر سره کوله او په ۲۰۱۱ کال کې د ښکېلاک د هنر په ګډون ګڼې لیکنې، مقالې او کتابونه لیکلي دي. نوموړی او سمهال په افغانستان کې د وسله والې جګړې، پوځ او پولیسو د اړوند مسایلو په ګډون د امنیتي مسایلو په اړه څېړنې کوي.

پیټر کوینټین په لندن کې د شاهي متحده چوپړونو انسټیټیوټ (RUSI) کې د ځمکنیو جنګونو د څانګې څېړونکی دی. نوموړی د وسله والو ځواکونو او ټولنې، ریزرف سمون، د وسله والو ځواکونو همکاري او په بهرنیو هېوادونو کې د ورتیاو و د لوړولو، د معلوماتي فعالیتونو اغېز او داخلي بریدونو په برخه کې له څېړنو سره لېوالتیا لري. نوموړي د ختیځو او افریقایي مطالعاتو پوهنځي د تاوتریخوالي، شخړو او پرمختګ په څانګه کې د ممتاز زده کړیال په توګه د تر لاسه ماسترۍ کولو وروسته په RUSI انسټیټیوټ کې دنده واخېسته. تر دې وړاندې یې په کمبریج پوهنتون کې په ټولنیزو او سیاسي علومو کې د لېسانس تر کچې زده کړې کړې وې. دی په پوځ کې لس کلنه منظمه او ریزرف تجربه لري. نوموړی په ۲۰۰۱ م کال کې په فوسلیرز شاهي غونډ کې پر دندې وګومارل شو او په جرمني او کاناډا او همداراز په افغانستان کې یې د افغان پوځ لپاره د ناټو د روزنیز ماموریت په چوکاټ کې خدمت کړی دی.

## د افغانستان د څېړنې او ارزونې واحد په اړه

د افغانستان د څېړنې او ارزونې واحد په کابل کې میشته یوه خپلواکه څېړنیزه موسسه ده. ددې ادارې دنده د لوړ څرنګوالې درلودونکو او پالیسۍ پورې اړوندو څېړنو له لارې پرپالیسۍ او چارومشبتې اغیزې دي، او همدا راز نوموړې اداره په افغانستان کې د څېړنې او زده کړې د کلتور د ودې په موخه ، د څېړنې پایلې په چټکه توګه خپروي. دې موخې ته د رسیدو لپاره له خپلو څېړنو او کتابتون څخه د ګټې اخیستنې دترویج په موخه له پالیسي جوړوونکو، مدني ټولنې، څېړونکو او زده کوونکو سره ددوی د څېړنېزې وړتیا د پیاوړي کولو په موخه ښکیل ده څو په دې توګه وکړای شي شننو، غبرګونونو او خبرو اترو ته لاره هواره کړي.

د افغانستان د څېړنې او ارزونې بنسټ (AREU) په ۲۰۰۲ کال کې په افغانستان کې د نړیوالې مرستندویې ټولنې په همکارۍ جوړ شو. دغه بنسټ د مشرتابه یو بورد لري چې د مرستندویو ادارو، لکه: ملګرو ملتونو او نورو ګڼ اړخیزو ادارو او نادولتي ټولنو استازي پکې ګډون لري. AREU اوسمهال د خپلو مرستو ډېره برخه د فیلنډ له سفارته، د سویډن د بهرنۍ پرمختیا د مرستندویه ادارې (SIDA) او د پرمختیا او همکارۍ لپاره د سویس له ادارې (SDC) څخه تر لاسه کوي.

په ۲۰۱۴ کال کې د دغه بنسټ د څانګړو پروژو ملاتړ د اروپایي کمېسیون (EC)، د پرمختیا او همکارۍ لپاره د سوېس ادارې (SDC)، د نړیوال پرمختګ انسټیټیوټ (ODI)، د ملګرو ملتونو پرمختیایي ادارې (UNDP)، نړیوال بانک، د منځنۍ اسیا پوهنتون (UCA)، د امریکا د سولې انسټیټیوټ (USIP)، د نړیوالې همکارۍ لپاره الماني ټولنې (GmbH)، (GIZ) او د فیلنډ د سفارت لخوا تر سره کېږي.

# مننه او کورودانی

لیکوال له هغو څېړونکو څخه مننه کوي چې د هغو معلوماتو په راغونډولو کې یې ورسره مرسته کړې چې، د دغه ټوک په بشپړ کې کارول شوي دي. همداراز له هغو افغان او بهرنیو افسرانو څخه هم مننه کوي، چې د دې څېړنې لپاره یې د مرکو له لارې یې همکاري کړې ده. د هغوی له همکارۍ پرته ښایي دا څېړنه نه وای بشپړه شوای. لیکوال له دې کبله په څېړنه کې د شاملو شویو اشخاصو نومونه یاد نه کړل، چې ښایي ځینې لوستونکي د دې مقالې ځینې توکي لانجمنی وبولي. په دې کې شک نشته چې په دغې مقالې کې د راغلیو توکیو مسوولیت د لیکوال پر غاړه دی، ځکه لیکوال له مرکو تر لاسه شوي معلومات شنلي او خپلې پایلې یې ترې رایستلی دي. هغه کس چې د دې مقالې لیکوال یې د نوم لیکلو جواز لري، پیټر کوینټین دی، چې په افغانستان او برتانیه کې یې له نړیوالو سوله ساتو ځواکونو، ایساف، او په افغانستان کې د ناټو مؤظفو کارکوونکو سره مرکې وکړې. نوموړي همداراز د معلوماتو په شننې او د دې مقالې د ځینو برخو په لیکلو کې همکاري کړې ده. همداراز لیکوال د افغانستان د څېړنې او ارزونې بنسټ له مدیره ډلې او د دغه بنسټ له ادارې څخه مننه کوي، چې د یوه کال په اوږدو کې یې د دې پروژې ملاتړ وکړ

دکتور انتونیو جیستازی

سلواغه۱۳۹۲

# د موضوعاتو لړليک


منته او کورودانی.......... و

د څېړنې لنډيز.......... ۱

۱. سريزه.......... ۳

۲. د منصوبينو د له لاسه ورکولو پرمختيايي بهير او اغېز.......... ۵

۲,۱ واقعيتونه.......... ۵

۲,۲ لاملونه.......... ۶

۳. په روزونکو تکيه.......... ۹

۳,۱ د وړتياوو ادلون بدلون.......... ۹

۳,۲ ناسم ماډل.......... ۱۱

۳,۳ لړليدونه.......... ۱۲

۴. د جګړه ييز ملاتړ د کافي کچې د رامنځته کولو وړتيا.......... ۱۴

۴,۱ موردي ارزونه: توپچي.......... ۱۴

۴,۲ موردي ارزونه: افغان هوايي ځواک.......... ۱۶

۴,۲,۱ تجهيزات.......... ۱۷

۴,۲,۲ بشري سرچيني.......... ۱۹

۴,۲,۳ لړليدونه.......... ۲۰

۵. خپلواکه لوژستيکي وړتيا.......... ۲۲

۵,۱ د نيمګړي پرمختګ لاملونه.......... ۲۲

۵,۲ لړليدونه.......... ۲۴

۶. د سياسي مداخلې کچه او ويجاړوونکې پايلې يې.......... ۲۷

۶,۱ د وړتيا پر بنسټ ګومارنې (يا يې کموالی).......... ۲۷

۶,۱,۱ ترفېعات.......... ۲۷

۶,۱,۲ خپلوانپالنه.......... ۲۸

۶,۱,۳ د افغان پوځ پر وړتياوو اغېز.......... ۲۹

۶,۲ قومي ستونزې.......... ۲۹

۶,۳ سياسي ډلبازي.......... ۳۳

۶,۴ د مراتبو د سلسلې پياوړتيا.......... ۳۳

۶,۴,۱ وفاداري.......... ۳۴

۶,۴,۲ د مراتبو په سلسله کې ګډوډي.......... ۳۵

۶,۴,۳ بې ډسپليني.......... ۳۶

۷. پايلې.......... ۳۷

۷,۱ د تګلارې سپارښتنې.......... ۳۸

ماخذ:.......... ۳۹


# ګرافونه


۱ګراف: د ۲۰۰۲ کال له جولای څخه د ۲۰۱۳ کال تر سپتمبر پورې په افغان ملي پوځ کې د ځواکونو شمېر د کمېدو مياشتنۍ کچه (٪).......... ۸

۲ګراف: په ډګر کې د وژل شويو منصوبينو مياشتنۍ کچه.......... ۸

۳ګراف: د قول اردو ګانو په لحاظ د ځواکونو شمېر د کمېدو کچه.......... ۸

۴ګراف: د توکم له مخې د افغان پوځ د ټولو رتبو لرونکي افسران (٪).......... ۳۱

۵ګراف: د توکم له مخې د افغان پوځ ټول منصوبين (٪).......... ۳۱

## جدولونه

۱جدول: د ۱۹۸۸ او ۲۰۱۱ کلونو تر منځ د افغان پوځ د ځواکونو د شمېر د کمېدو کچه ........ ۸
۲جدول: د افغان پوځ د قطعاتو د ارزونې کچې ........ ۱۰

## نقشې

۱نقشه : په ۲۰۱۳ کال کې د افغان ملي پوځ لوژستیکي مرکزونه ........ ۲۳

## انځورونه

د افغان ملي پوځ سرتېري د روزنې پر مهال د کابل په لمنو کې تمرین کوي ........ ۵
د افغان ملي پوځ یوه چورلکه د کابل له یوه پوځي مرکزه الوتنه کوي ........ ۱۳
د افغان ملي پوځ دوه چورلکې د کابل له یوه پوځي مرکزه الوتنه کوي ........ ۱۲
یو افغان پیلوټ په یوې زړې چورلکې کې د الوتنې پر مهال ........ ۲۵
د افغان ملي پوځ سرتېري د کابل په پوځي مرکز کې د فراغت د مراسمو پر مهال لوړه کو ........ ۳۰
د افغان ملي پوځ سرتېري د فراغت په مراسمو کې مارش کوي ........ ۳۵

## لنډنومونه

| | |
|---|---|
| AAF | افغان هوايي ځواک |
| ANA | افغان ملي پوځ |
| ANAOA | د افغان پوځ د افسرانو اکاډمي |
| ANP | افغان ملي پوليس |
| ANSF | افغان ملي امنيتي ځواکونه ( افغان ملي پوځ+ افغان ملي پوليس ) |
| AWOL | له رخصته پرته ناسوب ( غير حاضر ) |
| CSTC-A | په افغانستان کې د امنيتي لېږد ګډه قوماندانی |
| GPS | نړيوال موقعيت موندلو سېستم |
| HQ | قرارګاه |
| ICG | د کړکېچ نړيواله ډله |
| IED | سملاسي چاودېدونکي وسايل (بمونه) |
| IJC | د نړيوالو سوله ساتو ځواکونو ګډه قوماندانی |
| ISAF | نړيوال سوله ساتي ځواکونه |
| KIA | په ډګر کې وژل شوی |
| MoD | د ملي دفاع وزارت |
| MoI | دکورنيو چارو وزارت |
| NATO | د شمالي اټلانټيک د تړون ټولنه |
| NCO | بريدمل |
| NDS | د ملي امنيت رياست |
| NTM-A | په افغانستان کې د ناټو روزنيز ماموريت |
| OCS | د افسرانو روزنيز ښوونځی |
| SALT(P) | د افغان امنيتي ځواکونو د رخصتۍ د سفر ځانګړی پروګرام |

## د لغاتو ليکڼ

اسلامي جمعيت: يو منځلاری اسلامپالی ګوند دی، چې په افغانستان کې يې د ۱۹۸۰ يمو کلونو په جهاد او بيا د ۱۹۹۰ يمو کلونو په کورنۍ جګړې کې مهم رول لوبولی دی.

اسلامی حزب: يو سخت دريځی اسلامپالی ګوند دی، چې په افغانستان کې يې د ۱۹۸۰ يمو کلونو په جهاد او بيا د ۱۹۹۰ يمو کلونو په کورنۍ جګړې کې مهم رول لوبولی دی.

ملي محاذ: يو شاهي پلوی ګوند دی، چې د ۱۹۸۰ يمو کلونو په جهاد کې يې برخه اخېستې ده

خلق: د خلق ډموکراتيک ګوند سخت دريځې څانګه ده. دخلق ډموکراتيک ګوند يو شوروي پلوی ګوند و چې له ۱ ۹۷۸ تر ۱۹۹۲ پورې په واک کې و.

پرچم: د خلق ډموکراتيک ګوند منځلارې څانګه ده. د خلق ډموکراتيک ګوند يو شوروي پلوی ګوند و چې له ۱۹۷۸ تر ۱۹۹۲ پورې په واک کې و.

# د څېړنې لنډیز

افغان ملي پوځ په عامه توګه له ۲۰۰۱ کال راوروسته په افغانستان کې که تر ټولو پیاوړی نه وي نو د پیاوړو بنسټونو له ډلې خو ضرور منل کېږي. خو بیا هم د افغان ملي پوځ پر خپلو پښو د درېدو او په ستره کچه د بهرنیو مرستو د کمېدو په صورت کې له دښمنانو سره په بریالیتوب د مخامختیا د وړتیا ازمېښت په ۲۰۱۳ کال کې یوازې پیل شو او دا یو داسې مهال دی، چې بهرني ځواکونه له دغه هېواده د وتلو په درشل کې دي. دا څېړنه ښیي، چې په افغان ملي پوځ کې لا هم داسې پرېکنده کمزورۍ او نیمګړتیاوې موجودې دي چې د روانې جګړې د کابو کولو یا د وسله والو د ماتولو په برخه کې د دغه بنسټ هڅې له خنډونو سره مخامخولای شي.

افغان ملي پوځ په ۲۰۱۳ کال کې هم د خپل تېر تاریخ په څېر د شمېر د کمېدو له ستونزې سره مخامخ و. د دې کار ستر لامل د دغه پوځ د منصوبینو خوا له خپلو دندو لاس په سر کېدل دي. د دندې د پرېښولو تر شا هم په خپل وار ګڼ لاملونه په ګوته کېدای شي، لکه د ګومارل شویو منصوبینو ټیټ معیار. خو له دې خبرې هم خلاصی ناشونی برېښي، چې په افغان ملي پوځ کې له دندې تر سره کولو سره د لېوالتیا نه شتون د دولت د مشروعیت له ستونزې سره هم تړاو لري. افغان ملي پوځ په حقیقت کې د هېواد له هغو برخو نه د منصوبینو په جذبولو کې پاتې راغی، چې د ۲۰۰۱ کال له نړیوالې مداخلې وروسته ورته تر نورو ډېره ګټه رسېدلې ده (چې دا ښاري او په ښار پورې نښتې سیمې دي). د دې پر ځای دغه بنسټ له بې وزلو کلیوالو سیمو څخه د منصوبینو په جذبولو تکیه کړې ده. دا کومه اریانوونکې خبره نه ده، چې د افغان ملي پوځ په لیکو کې دندې ته هڅونه ځینې وختونه تر پوښتنې لاندې راځي.

په دې کې شک نشته چې افغان ملي پوځ په ځانګړې ډول د روزنې او مشاوریت په برخو کې له مرستندویو هېوادونو څخه د سترې کچې پانګونه تر لاسه کړې ده. خو دا چاره د ورو پرمختګ ښکار شوې ده. د دې یو لامل دا دی، چې افغان پوځ د افغانستان د ټیټکي اقتصادي ودې په قرینه کې د بشري سرچینو ټیټ معیار جذب کړی دی. له افغان پوځ سره د لوېدیځ د مرستو ستره ستونزه ښایي دا وي، چې دوی یوه داسې هېواد ته د لوړې کچې او بهرني ماډلونه راوارد کړل چې د هغوی د تطبیق لپاره یې جوړښتي او تعلیمي ظرفیت نه درلود. د وړتیاوو د ځیناستي کولو مسلې تر ۲۰۱۳ کاله پورې افغان پوځ وځاپه. له دې وروسته د بهرنیو مشاورینو له تدریجي وتلو سره سم افغان افسران او جګړه ییز مرستندویان دې ته اړ شول، چې د خپلو ظرفیتونو لوړولو ته پخپله متې راونغاړي. که څه هم په دې برخه کې داسې هڅوونکې نښې موجودې وې، چې دا بهیر په بریالیتوب پیل شوی، خو د ۲۰۱۳ کال په پای کې دا خبره لا څرګنده نه وه، چې افغان پوځ له سترو ننګونو سره تر مخامخېدو دمخه د دې چارې د بشپړولو لپاره پوره وخت لرلی دی.

دا چې افغان پوځ د کومې کچې توپچي او هوایي ځواک ته اړتیا لري اوس هم تر بحث لاندې موضوع ده. افغانان په یوه خوله د دې نظر ملاتړ کوي، چې لا نور درانه تجهیزات او پیاوړی هوایي ځواک یوه اړتیا ده. خو د نړیوالو سوله ساتو ځواکونو، ایساف، او په افغانستان کې د ناټو د ماموریت مسوولین بیا استدلال کوي، چې د وسله والو ډلو پر ضد جګړه کې درانه تجهیزات اغېزمن نه دي. خو دا هم یو واقعیت دی، چې افغان پوځ د یوه داسې پیاوړي هوایي ځواک په شتون کې د جګړې لپاره روزل شوی دی، چې له ۲۰۱۴ کال وروسته به یې ملاتړ و نه لري. افغان هوایي پوځ لا هم د پرمختګ په لومړیو پړاوونو کې دی او داسې هېڅ پلان نشته، چې دغه ځواک به له اکمالاتي او یو کم شمېر جګړه ییزو الوتکو پرته په نورو تجهیزاتو سمبال شي.

لوژستیک ښایي د افغان پوځ تر ټولو پرېکنده کمزوري وی. که څه هم په ۲۰۱۳ کال کې هڅه وشوه، چې په دغه برخه کې پرمختګ وشي، خو افغان پوځ له داسې تجربو سره مخامخ شو، چې لوژستیکي کارپوهان یې د هغو لسګونو زرو ځواکونو د ملاتړ په سخت کار بوخت شول، چې له خپلو قرارګاوو لرې په دندو ګومارل شوي دي. دغه مهارتونه په لنډ وخت او بې له چمتوالي نشي تر لاسه کېدای او د دغو وړتیاوو کموالی به افغان حکومت دې ته مجبور کړي، چې له ښارونو دباندې او لویو لارو باندې د جګړې کولو لپاره پر بې باورو غیر منظمو ځواکونو زیاتېدونکې تکیه وکړي.

که څه هم افغان پوځ په ۲۰۱۳ کال کې د ۲۰۰۵ کال په پرتله یو ډېر مسلکي ځواک و، خو دغه پوځ لا هم په جدي ډول د خپلوان پالنې او سیاسي ډلبازۍ نه اغېزمن و او د مراتبو په سلسله کې یې بهرنۍ لاسوهنې ډېره عامه چاره وه. د رسنیو په ځینو راپورونو کې ښایي په دغه ځواک کې د موجودې قومي او نژادي ستونزې په اړه له مبالغې کار اخېستل شوی وي، خو د پوځ د افسرانو تر منځ او له ګوندونو او سیاستوالو سره د هغوی اړیکې لږ تر لږه په دغه بنسټ کې د بشري سرچینو د مسلکیتوب د کموالي یو لامل ګرځېدلی دی. د افغان پوځ په لیکو کې له دسپلین راوستو سره سره (د بېلګې په توګه د پوځ په لیکو کې د درنو نشه یي توکیو په کارولو کې کموالی راوستل شوی) په ټوله کې په افغان پوځ کې د دسپلین کچه لا هم لوړه نه ده.

په پایله کې، افغان ملي پوځ په نږدې راتلونکې کې له سترو ننګونو سره مخامخ دی. په دوی کې ځینې ننګونې د اوږدمهالې بې غورۍ پایله ده او په چټکۍ نشي اوارېدای. خو نورې بیا د سیاسي مداخلې او د ډلو ټپلو شبکې جوړولو پایلې دي او که د اوارولو لپاره یې سیاسي اراده شتون ولري، په چټکۍ سره اوارېدای شي. تر ۲۰۱۳ کاله پورې افغان سیاسي مشران په کابل کې د خپلو شخصي مبارزو په اړه تر دې ډېر اند بښمن ښکارېدل چې افغان پوځ د جګړې په ډګر کې د پرتو ننګونو د مخامختیا لپاره وړتیا څنګه تر لاسه کړي. که څه هم افغان پوځ او سیاسي مشرتوب لږ تر لږه یو څه دلیل لري، چې د افغان پوځ د کم سمبالښت په اړه شکایت کوي، خو تر ۲۰۱۳ کاله پورې دا خبره جوته وه، چې په دې اړه په یوې لنډې مودې کې څه نشي کېدای. دا ځکه چې د پوځ لیکو ته به د نویو تجهیزاتو داخلېدل په دې ډېر وخت ونیسي چې په دې برخه کې اړینو روزنو ته اړتیا ده. هغه هم په هغه حالت کې، چې کوم دوست هېواد د دغو تجهیزاتو وړیا ورکولو ته زړه ښه کړي، ځکه افغانستان یې د پېرلو توان نه لري.افغان ملي پوځ ته به غوره مشوره دا وي، چې هغه څه چې په لاس کې یې لري، له هغې اعظمي ګټه پورته کړي او په ۲۰۱۵ کال کې یې تر خپلې وسې ښه منظم کړي. له دې لارې به دا پوځ د بهرنیو مرستندویانو په نظر کې دومره اعتبار تر لاسه کړي، چې هغوی به پکې پانګونه روانه وساتي. په دې کې د یوه داسې پلان

له مخې د ځواکونو ګومارنه هم شامله ده، چې د لوژستيکي برخې په څېر د افغان پوځ د سترو کمزوريو د ډاګيز کېدو مخه نيسي. د لوژستيکي او مديريتي برخو په څېر بنسټونو د پرمختګ لپاره بايد افغان پوځ داسې لارې چارې پر مخ بوځي، چې له مخې يې د لېسو ډېر فارغين جذب کړای شي. حربي پوهنتون ته د شاملېدو لپاره له لوړ شمېر عرايضو داسې ښکاري چې د لېسو فارغان په ټوله کې د پوځ په ليکو کې له چوپړ کولو دريغ نه کوي، خو دوی په دې دنده کې نغښتې ګټې ليدل غواړي. دا خبره هم بايد څرګنده وي، چې د حکومت په پورتنيو پوړ کې سياسي کړکېچ ( د بېلګې په توګه د ۲۰۱۴ کال د ولسمشريزو ټاکنو پر مهال) به د دولت مشروعيت نور هم کمزوری کړي او د افغان پوځ پر مورال به ډېر ناوړه اغېز وکړي.

## ۱. سریزه

افغان ملي پوځ او ملي هوايي ځواک په ۲۰۰۱ کال کې په افغانستان کې د لويدځ د مداخلې او پيل کړې جګړې يو توليد دی. د دې دليل يوازې دا نه دی چې د دغو ځواکونو بنسټ په ۲۰۰۲ کال کې د هغه حکومت له خوا کېښودل شو چې د لويديځ د مداخلې پر مټ واک ته رسېدلی و، بلکې تر دې مهم دليل يې دا دی چې بهرنيو ځواکونو د دغو ځواکونو مالي ملاتړ وکړ او ويې روزل. نو دا خبره به ښايې له وړاندې نه څرګنده وه چې د دغو ځواکونو د پايښت په اړه به پوښتنې راپورته کيږي. د افغان وسله والو ځواکونو د پايښت په اړه ناندريو تر ډېره پر مالي اندېښنو تمرکز کړی دی. ان له ۲۰۰۱ کال راپه ديخو پيل شوي پړوا په لومړی سر کې د نړيوال بانک په څېر ادارو د دغو وسله والو ځواکونو د لګښتونو په اړه خبردار ورکړی و. دا ځکه چې د دغو ځواکونو جوړښت د نړيوالو مرستندويانو د پرېکړو له مخکې رامنځته شوی و او په راتلونکي کې د افغان دولت له خوا د خپلو ځواکونو د لګښتونو پوره کولو وړتيا ته پاملرنه نه وه شوې. هغه مهال د افغان ملي پوځ شمېر تر اويا زرو (۷۰،۰۰۰) ډېر نه و پلان شوی. په راوروسته کلونو کې د کړکېچ په راسختېدو او په افغان مسله کې د ناټو هېوادونو د ليوالتيا په کمېدو د افغان پوځ شمېر يو سل او پنځه اتيا زرو (۱۸،۵۰۰۰) ته لوړ شو او د يو سل او پنځه نوي زرو (۱۹،۵۰۰۰) ته د رسولو هدف ورته وټاکل شو. د شمېر په دغه زياتوالي په ځانګړې توګه د مالي پايدارۍ مسله له دې کبله راپورته شوه چې د دې په څنګ کې د افغان ملي پوليسو شمېر هم ډېر زيات شو.

دا چې په ۲۰۰۸ کال کې راپورته شوي نړيوال مالي کرکېچ د افغانستان د دفاع وزرات کابو ټول مرستندويان وځپل، د اوباما ادارې په ۲۰۱۱ کال کې له افغان ځواکونو سره د راتلونکې مالي مرستې د يوې ټيکاو لرونکې کچې د ټاکلو په اړه خبرې اترې پيل کړې. د افغانستان د امنيتي حالت په اړه د هيله زيږوونکو راپورونو پر بنسټ د ۲۰۱۱ کال په دسمبر کې په بن کی د جوړ شوي نړيوال کنفرانس په ترځ کې د لومړنيو ارزونو له مخی پرېکړه وشوه چې دغو ځواکونو ته به څلور اعشاره په يو (۴.۱) ميليارد ډالر د مرستې په توګه ورکول کيږي، چې ډېره برخه به يې له امريکا له خوا ورکول کيږي او پاتې به يې نور مرستندويان او افغان حکومت پوره کوي. د ارزونو له مخې دغه کچه د دغه هېواد د اړتياوو د پوره کولو لپاره کافي وبلل شوه. دغه ارزونه د دې انګيرنې له مخی شوې وه چې د افغان پوځ او پوليسو د مجموعي ځواکونو درې سوه پنځوس زره (۳۵،۰۰۰۰) شمېر به دوه سوه اته ويشت زرو (۲۲،۸۰۰۰) ته راټيټيږي. خو په دغې موافقې څو مياشتې نه وې تېرې شوي، چې د بهرنيو ځواکونو له وتلو سمدستي وروسته د افغان ځواکونو د شمېر د کمولو د پرېکړې په څېرکتيا شکونه راپورته شول چې له امله يې ټول پلان تر پوښتنې لاندې راغی. په ۲۰۱۳ او ۲۰۱۴ کلونو کې د دغو ځواکونو د اوسني شمېر د ساتلو لپاره دوه اعشاريه څلور (۲.۴)ميلیارده اضافي ډالرو ته اړتيا ده. خو له بله پلوه د څلور اعشاريه يو (۴.۱) ميليارد ډالرو پوره کول وار له مخه د تمې خلاف سخت ثابت شوي دي.[1] په ۲۰۱۱ کال کې د افغان پوځ يوازې د روغنياتو لګښت پنځه سوه ميليونه (۵۰۰،۰۰۰،۰۰۰) ډالر و، چې د دغه هېواد د حکومت د ټولو عوايدو څلورمه برخه کيږي.[2] نو د ۲۰۱۳ کال تر نيمايي پورې د مالي پايدارۍ مسله ناحل شوی پاتې شوه. خو په راتلونکي وخت کې يې د پايښت د نورو غير مالي اندېښنو په پرتله حل آسان بريښېده (چې ښايي د امريکا د پراخي مالي ژمنتيا په بڼه وي). هغې پروژې له همدغې ملاحظې سرچينه اخيستې چې د دې څېړنيزې مقالې د چاپ لامل شوه.

د دې څېړنيزې مقالې موخه دا ده، چې له ستونزمنو حالاتو سره له اداري پلوه د ځان عيارولو له ليدلوري افغان ملي پوځ و ارزوي. په بل ژبه، ايا افغان ملي پوځ به په دغسې حالاتو کې د يوه پوځ په توګه پايښت ومومي. افغان ملي پوځ ډېرې وختونه په افغانستان کې د اداري بنسټ جوړونې لومړنۍ او بنسټيزه بېلګه او د ملي ګټو د ساتلو لپاره تر ټولو باوري اداره ګڼل کېږي. خو پوښتنه دا ده، چې دغه پوځ د يوه دولتي بنسټ په توګه څومره رسېدلی او پرمختګ يې څومره پايدار دی؟ دا پوښتنه په ځانګړې توګه ځکه مهمه ده، چې افغانستان لا هم په جګړه کې دی. په داسې حالاتو کې چې افغان ملي پوځ پر خپلې وړتيا باندې تکيه کولو ته اړ شي د دغه پوځ عيارېدل ورسره مهم دي. دا چې د ۲۰۱۲ او ۲۰۱۳ کلونو په اوږدو کې ډېرې جګړه ييز مسووليتونه افغان ځواکونو ته وسپارل شول، د ۲۰۱۳ کال تر اپرېله د وسله والو په څلورو کې دريوو برخو بريدونو افغان ملي پوځ او نور افغان ځواکونه په نښه کول او په څلورمه برخه بريدونو کې بهرني ځواکونه په نښه کېدل. تر دې يوازې شپږ مياشتې وړاندې دغه نسبت په دقيق ډول معکوس و.[3] دا چې د ۲۰۱۴ کال په پای کې افغان ځواکونو ته د مسووليتونو د لېږد په نېټه کې د خبرو له لارې بدلون راوستل ناشوني ښکاري او لوېديځ حکومتونه دغه مهالوېش ته په څرګند او پرېکنده ډول ژمن دي، پر افغان پوځ به دغه فشار نور هم زيات شي.

۱ Thom Shanker, “NATO Plan Tries to Avoid Sweeping Cuts in Afghan Troops”, New York Times, ۲۱ February ۲۰۱۳.

۲ Interview with NTM-A senior commanders, Kabul, April ۲۰۱۳. See also Graham Bowley, “Records Missing on Afghan Army Fuel Costs, “New York Times, ۱۰ September ۲۰۱۲.

۳ “Afghans pay in blood, losing an estimated ۳۰۰ a month to take lead in fight against Taliban, “Associated Press, ۲۷ April ۲۰۱۳.

که افغان ملي پوځ اړینې مالي سرچینې تر لاسه هم کړي، ستونزه دا ده چې د دفاع وزارت له خپلو سرچینو څخه په اغېزناکه توګه د ګټې اخېستلو وړتیا نه لري.[۴] په دې برخه کې اداري فساد یو لوی خنډ بلل شوی دی. لکه څنګه چې په افغانستان کې د ناټو روزنیز ماموریت یوه سرچینه وايي:

> د افغان دولت په وړاندې تر ټولو ستر ګواښ طالبان یا پاکستان نه دی، بلکې دغه ستر ګواښ په دولت کې شته اداري فساد دی او که دوی د دغې ستونزې د اوارولو لپاره ژمنتیا و نه ښيي، نړیوالې مرستې به بندې شي.[۵]

د بنسټیزو ټکو دا لاندې ټولګه د افغان ملي پوځ د مالي پاېښت د تحلیلولو لپاره یو بنسټ وړاندې کوي. په دوی کې ځینې ټکي د بشري منابعو په اداري پوړې اړه لري او ځینې نور یې بیا د یوه موثر افغان ملي پوځ د پرمختګ او پاېښت لپاره د دفاع وزارت او سیاسي مشرتابه په وړتیا او ارادې پورې تړاو لري.

- د بشري منابعو فعالیت او اداره
  - د افغان ټولنې له جوړښت سره سم د منصوبینو د جلب او جذب معیار
  - پر هغو بهرنیو مشورو او خدماتو د تکیه کولو کچه چې د بهرنیو ځواکونو له خوا وړاندې کېږي
  - د محاربوي ملاتړ لپاره د ماهر پرسونل تولید او اداره لکه په غیر مستقیم ډول تر اور لاندې نیول، د نژدې واټن هوايي مرسته او د بمونو ضد اقدامات
  - د لوژستیکي مرستې او د ځمکنیو جزوتامونو د حمایه کولو په موخه د ماهر پرسونل تولید او ادراه
- د سیاسي مداخلې کچه او د ځواکونو په سوق او اداري باندې د هغې ناوړه اغېزې
  - په افغان ملي پوځ کې د لیاقت پر بنسټ ګومارنې
  - د مراتبو د سلسلې استحکام
  - ډلبازي او قوم پالنه

د دې څېړنې د تر سره کولو لپاره چې کوم مېتود ټاکل شوی پر ازادو او جوړښتي مرکو مشتمل دی، چې د افغان ملي پوځ له افسرانو او سرتېرو، بهرنیو مشاورینو او روزونکو، د افغان ملي پوځ له بهرنیو څارونکو ، چې په دوی کې شنونکي، کتونکي، سیاستوال، پخواني پوځي چارواکي او مخکښ شخصیتونه شامل دي، سره تر سره شوې دي. د دې څېړنیزې مقالې لیکوالو له هغو توکیو هم ګټه پورته کړې چې عام خلک ورته لاسرسی لري ( لکه مقالې، رسنیزې لیکنې، خپاره شوي او پټ علني شوي اسناد او داسې نور). کله چې په کړکېچ کې ښکېل پوځ مطالعه کېږي، نو بې له شکه چې څېړونکي له یو لړ میتودي مسلو سره مخامخ کېږي. په دې برخه کې ډېرو کمو رسمي اسنادو ته لاسرسی موجود و او هغو اسنادو ته چې لاسرسی ممکن شوی، د هغو چارواکو له خوا شریک شوي، چې د ټولې مسلې د یوازې یوې برخې په ښوولو کې دلچسپي لري. دا اند ښېښنه د شفاهي سرچینو په اړه تر نورو ډېره ده. په څېړنه کې د کومې ځانګړې خوا د پالنې د ګواښ د مخنیوي په موخه لیکوالو کوښښ کړی چې د بېلابېلو خواوو تر منځ د انډول راوستو هڅه وکړي (لکه د افغان ملي پوځ برحال افسران/لارښودان او مشاورین او روزونکي/څارونکي چې د افغان امنیتي ځواکونو له اداري دباندې دي). خو بیا هم د منفي پالو او مثبت پالو تر منځ انډول رامنځته کول یو سخت کار و، چې د لاس ته راغلو موادو د تفسیرولو په برخه کې یې ډېرې ستونزې رامنځته کړې، چې لیکوال یې بشپړ مسوولیت پر غاړه اخلي.

همدا راز په دا ډول سرچینو باندې تکیه کول د افغان ملي پوځ او افغان هوايي ځواک د جزوتامونو د سروې پر خلاف دوه غیر ارادي پایلې لرلای شي. لومړۍ پایله یې دا ده چې راټوله شوې ډاټا ښايي د بېلابېلو قطعاتو تر منځ پراخ توپیرونه پټ کړي. په دې کې یوه مسله د افغان ملي پوځ په لیکو کې د وړتیا لرونکو او بې ظرفیته افسرانو شتون دی، چې بهرني مشاورین یې هم ډېری وختونه په اړه راپورونه ورکوي. دویمه مسله دا ده، چې شفاهي شواهد چې له چاپ شویو سرچینو یا د مرکو له لارې تر لاسه شوي، ښايي په لیکو کې موجود مهم مسایل په ګوته نه کړي، بلکې هغه څه به رابرسېره کړي، چې د معلوماتو د ورکوونکو شخصي تعصبات ښايي څرګند کړي. نو که شخصي تعصبات یو بل خنثی نه کړي، که دا ډول شواهد له سره و نه ارزول شي، د مسایلو په اړه ناسمه لارښوونه کولای شي. په دغه راپور کې هڅه شوې، چې سرچینې تر وسې وسې په احتیاط وکارول شي، خو لوستونکي یې باید له ګواښونو خبر وي.

---

۴. Interview with members of the ISAF Plans cell, April ۲۰۱۳.
۵. Interview with NTM-A Senior Commanders, April ۲۰۱۳.

# ۲. د منصوبينو د له‌لاسه‌ورکولو پرمختیایي بهیر او اغېز

په جګړه کې د پوځ د بشري ځواک لیږد او مدیریت یو لړ ستونزې هم له ځان سره لري، په تیره بیا د خپل منځني نښتو پر مهال چې د ځمکنۍ بشپړتیا د ساتنې او مهار په برخه کې د حکومت کمزوري هم پام ځان ته ګرځوي. د دې پوښتنې په ځواب کې وړاندې کېدونکي معلومات هم یو لاس او تل موجود نه وي، ځکه هم نو د اسنادو او معلوماتو له مخې اوږدو بحثونو ته اړتیا ده چې سمه ارزونه وشي. البته اصلي موضوع د دندې د پرېښودو (تېښتو) د لوړې کچې اصلي لاملونه دي.

## ۲.۱ واقعیتونه

د استخدام پر مهال په ۲۰۰۳ کال[۶] کې د جلب او جذب د ولایتي دفترونو د پرانیستل کېدو پر مهال په شمیرلو مواردو کې د افغان پوځ د جذب یوه ستونزه همدا وه او په دې مهال د ملي ځواکونو له کرښو څخه د تېښتې (د دندې د پرېښودو) لوړې احصایې ثبت شوې. (ګراف ۱)[۷]. په دفاع وزارت کې د ناټو مشاورین هڅې کوي چې له لیکو د تیښتې د عواملو ریښې وپېژني. د بېلګې په توګه په ۲۰۱۲ کال کې یوه پالیسي پلې شوه چې په کاري قراردادونو کې یې شل ورځې کلنۍ رخصتي رسمي کړه.[۸] خو د عملیاتو پرېښودو شل ورځنۍ روزنې او مدیریت بیا هم د علملیاتو د سرعت او منابعو د محدودیت له امله هماغه راز له ستونزو ډک پاتې دي[۹]



د افغان ملي پوځ سرتېري د روزنې پر مهال د کابل په لمنو کې تمرین کوي

که څه هم داسې ادعا شته چې په ۲۰۱۳ کال[۱۰] کې له لیکو د تېښتې کچه را ټیټه شوې ده په دې برخه کې شته احصایې په دې اړه د شک ښودنه کوي. د ۲۰۱۳ کال په اوړي کې د ۲۰۱۲ کال د ورته مهال په پرتله دا کچه زیاتوالی ښیي (لومړی جدول وګورئ). په ۱۹۸۰مو کلونو کې د شوروي اتحاد د مهال د وروستي افغان ځواک له پوځ وروسته مهال سره پرتلنه له دغه بهیر څخه د درس اخیستو د اړتیا ښودنه کوي. هغه د عسکرۍ د خدمت له جوړو شوو سرتیرو جوړ پوځ و. لکه چې لومړی جدول یې ښیي په ۱۹۸۸ کال کې هغه مهال چې په وسله وال اپوزیسیون د برید د مهال منځني وختونه وو افغان پوځ د ۲۰۱۲ کال په پرتله د لږ څه زیاتې له خدمت نه د تېښتې د کچې شاهد و، په ۲۰۱۲

۶ Personal communication with UN official, Kunduz, March ۲۰۰۴; personal communication with UN Military Liaison Officer, February ۲۰۰۴.

۷ The attrition rate is defined as the sum of the killed-in-action, wounded-in-action and desertion rates.

۸ Interview with NTM-A Senior Commanders, April ۲۰۱۳.

۹ Interview with members of ISAF plans cells, April ۲۰۱۳.

۱۰ Howard LaFranchi, "Is Afghanistan ready to defend itself?" Christian Science Monitor, ۲۵ June ۲۰۱۳; Interview with senior IJC officer, September ۲۰۱۳; "Afghan TV reports decline in rate of army, police desertion," Tolo TV, ۱۳ August ۲۰۱۳, in Dari ۱۳۳۰ GMT.

کال کې آیساف د پوځي ملاتړ پوره تعهد هم درلود. په ۱۹۸۸ کال کې شمیرې ښایي چې یو څه زیاتې هم ښودل شوې وي ځکه چې تېپیان هم پکې شمارل شوي دي په داسې حال کې چې د افغان پوځ د خدمت د تېښتې د کچې په احصایو کې دا شی نشته.

له افغان پوځ څخه تیښتې په ډېری مواردو کې جګړه ییزو سیمو ته د استول کیدونکو ډلګیو د لړوالي او کمزورۍ په څیر مهم موارد هم اغیزمنوي.[11] دوی دغه راز په ۲۰۱۲ او ۲۰۱۳ کلونو کې د بریدمل یا پلو ځواکونو ډلګۍ هم اغیزمنې کړې دي. له همدې امله دی چې د پوځ د پرېښودو پیښنو د افغان پوځ وده هغه ډول نه ده زیانمنه کړې چې یو شمیر څارونکوی یې په اړه نظر څرګندوي. که څه هم د مسلکي روزل شویو افسرانو یو شمیر نیمګړتیاوې وخت ناوخت وي خو هغه هم د روزونکو له خوا.[12] افسرانو او بریدمل منصبدارانو د ۲۰۱۳ کال په مارچ کې ایله ۸۲ سلنه پلان شوې وده ممکنه کړه.[13]

افغان پوځ په جګړه ییزو عملیاتو کې د مهم رول لوبول په ۲۰۰۵ کال کې پیل کړل. له ۲۰۰۵ تر ۲۰۱۰ کلونو پورې افغان پوځ د ملي پولیسو په پرتله په عملیاتو کې لړه ونډه اخیسته او د دندې پرېښودو کچه چې په لومړي ګراف کې ښودل شوې لوړه ده په تیره بیا د افغان پوځ له داوطلب استخدام په برخه کې. په سرچپه ډول د افغان پوځ د ۲۰۰۲ او ۲۰۰۳ کلونو پر مهال یعنی د افغان پوځ له جلب او جذب له پړاو وړاندې د پوځ پرېښودنې شمیرې لوړې دي. او هغه څه چې ډېر پام ځان ته په هغه مهال ګرځوي د درنو تلفاتو یا هم د جلب او جذب د نشتوالي له امله د سختو شرایطو په خاطر څه نه و. په ۲۰۰۵ تر ۲۰۱۲ کلونو پورې چې د دندې پرېښودو کچه په ثابت حالت پاتې شوه د تمریناتو پر مهال د تلفاتو کچه چې په لومړي او دوهم ګراف کې لیدل کیږي د ودې په حال کې ده. دا نه یوازې په هغه مهال کې د دندې د پرېښودو د یوې لړې برخې د اړوندو تلفاتو ښودنه کوي بلکې له دې سره د دندو د پرېښودو د ژرمهاله تلفاتو تړاو نه ښیي.

له دوه زره څلورم کال څخه را وروسته په میاشتني ډول له دندو تېښته د دوه او درې سلنې تر منځ وه او ځینې وخت له څلور سلنې هم زیاته شوې؛ چې معنا یې دا ده چې هر کال د دندو د پرېښودو له امله د پوځ له څلورمې تر یو پر درې برخې له لاسه وتلی دی. دا چې ۹۸ سلنه د دندو پرېښودو او له رخصتۍ پرته غیرحاضرو (AWOL ) په ساحو کې شته قطعات اغیزمن کړي دي په عملي توګه یې په جګړه ییزو کنډکونو کې د ادلون او بدلون کچه هم لوړه کړې ده.[14] په ساحه کې د کنډکونو پرتلنه ښیي چې د جګړه ییزو کنډکونو برخې تر ټولو ډېرې زیانمنې شوې، درییم ګراف وګورئ، هغه ځواکونه چې له جګړه ییزو ماموریتونو ساتل شوي په منځني ډول د دندې پرېښودو له پېښنو سره مخامخ شوي، چې دا د دې ښودنه کوي چې جګړو هم د دندو په پرېښودو کې ډېر رول نه دی لوبولی. د بېلګې په توګه د ۲۰۱۰ په نومبر میاشت کې د دفاع وزیر وردک پرېکړه وکړه چې د لوړې کچې دندې پرېښودو په برخه کې د مسوولیت لرونکو قوماندانانو یو واحد جوړ کړي او تر څنګ یې له پولیسو او ځایي چارواکو وغوښتل چې د دندې د پرېښودونکو کسانو په پیژندلو کې ورسره همکاري وکړي.[15] خو بیا هم ډیر لږ بدلونونه په هغه مهال کې په دې اړه رامنځته شول.

## ۲.۲ لاملونه

له پوځ نه د تېښتې په برخه کې په لوړه کچه د لاملونو پر سر بحث یو شمیر مهمو ستونزو ته پام ورګرځوي. یوه مهمه برخه یې د تښتېدونکو د نه مجازات کیدو اړخ دی چې دوی عادي ژوند ته ستنیږي او حتی کولای شي د امنیتي ګارډ په څیر نورې دندې تر لاسه کولای شي. دا ډېری د جلب او جذب لپاره د خلکو د هڅولو او یا هم په مهم او حساس وخت کې مصلحت اندیشۍ ته د تمایل اړتیا وه، خو بالاخره له دندو د تیښتې کچه له کنټرول څخه ووتله.[16]

بله ستونزه د جذبیدونکو د وړتیاوو کمزورې ارزونه وه چې له پوځ څخه د تیښتې په برخه کې یې ونډه درلوده او ورته موضوع د افغان پوځ د شمیر په زیاتوالي کې هم ممکنه ښکاري. د جذبیدونکو کسانو په ښه ارزونه کې حتی په فزیکي او بدني روغتیا کې هم لږ پام شوی دی. فزیکي کمزوري یا هم اعتیاد (۳.۴.۳ وګورئ) چې ډېر پام نه دی ورته شوی او حتی یوازې لس اونیز ډېری لومړنی ټریننګ ورته چمتو شوی په یو وخت کې اتو اونیو ته دا کچه ټیټه شوې او بیرته په ۲۰۱۳ کال کې دا موده دولس اونیو ته وغځول شوه او دا د دې لامل شوه چې یو څوک له ګومارل کیدو وروسته پوځي ډیسیپلین ته داخلیږي.[17]

---

۱۱ For an example of a battalion redeployed from Faryab to Kandahar, see Vegard Valther Hansen, Helge Lurås and Trine Nikolaisen, "Operational Mentoring and Liaison Teams (OMLT): The Norwegian Army and their Afghan partners", Norwegian Institute of International Affairs, Policy Brief ۱, ۲۰۱۲.

۱۲ "Afghan military leader shortage hinders army growth", Reuters, ۱۴ February ۲۰۱۱; John Wendle, "Fighting the Taliban: Afghan Army's Attrition Crisis", Time, ۲ March ۲۰۱۱.

۱۳ Department of Defense, "Report on Progress Toward Security and Stability in Afghanistan" Washington, July ۲۰۱۳, p. ۷۳.

۱۴ Caroline Wyatt, "Can Afghan National Army survive NATO exit?", BBC News, ۹ March ۲۰۱۱.

۱۵ NATO Training Mission Afghanistan, "Ministry of Defense: a year in review", Kabul : NTM–A, ۲۰۱۱.

۱۶ Rod Nordland, "Afghan Army's Turnover Threatens U.S. Strategy," New York Times, ۱۵ October ۲۰۱۲; Joshua Partlow, 'More Afghan soldiers deserting the army', Washington Post, ۲ September ۲۰۱۱.

۱۷ Dianna Cahn, "Troops fear corruption outweighs progress of Afghan forces", Stars and Stripes, ۹ December ۲۰۰۹; interview with ANA officer in Maidan Wardak province, April ۲۰۱۳; interview with senior officer in Paktya, April ۲۰۱۳; Interview with ANA officer in Shwak District of Paktiya province, April ۲۰۱۳; Interview with ANA officer in Kama (Nangarhar), April ۲۰۱۳; Interview with ANA colonel

افغان او ګډو ځواکونو په ۲۰۱۱ کال کې د جذبیدونکو کسانو د چک کولو په برخه کې سختي پیل کړه او بیا یې په ۲۰۱۲ کال کې یو ځل بیا دا سختي نوره هم زیاته شوه چې خپل منځني ځیني بریدونه وشول.[۱۸] افغان پوځ په سویلي برخو کې د نظم په پلي کولو کې د یوه ستر تو پیر له مخې د استخدام د یو څه سختو شرایطو سره مخامخ شول.[۱۹] حتی په ۲۰۱۲ کال کې که څه هم چې د غوښتنو او اسنادو ډیر لږ موارد رد شول. ۱۸ ارزونکو افسرانو د ۲۰۱۲ کال له مارچ څخه تر سپتمبر میاشتی پورې له ۳۱۰۰۰ غوښتنلیکونو څخه یوازی ۹۲۲ هغه رد کړي وو.[۲۰] په ملي پولیسو کې خو ځینې په دې باور وو چې د پیژندګلوی او ارزونې د ترسره کولو لپاره هماغه د مشرانو له خوا ور پیژندل کیدونکې پخوانۍ کړنلاری باندې دې تکیه وشي.[۲۱]

په هر حال د استخدام پر مهال هر رنګه اقدامات به ونه کولای شي چې د دندې پرېښودو اړوند ستونزې قابو کړای شي. تر ډیره استخدامیدونکي کسان په خپلو تیښتو کې مالي ګټې هم په پام کې نیسي.[۲۲] د تېښتو د لوړې کچې دلایل چې دلته یاد شول د مرکه کوونکو له خولې چې له رسنیو سره غږیدلي دي تکیه پرې شوې او په لاندې ډول دي:

- د افغان پوځ پر افسرانو د بډو اخیستنو تورونه[۲۳]
- په افغان پوځ کې د وژل شوو کورنیو ته نه پام او د دوی د ټپي کیدو او معیوبیدو ته نه پاملرنه او دغه راز کمزورې صحي توجه[۲۴]
- د وسله والو ارعاب او فشار[۲۵]
- سخت د ژوند (ویرول) شرایط او د رخصتیو له پاره د غوښتنو ردیدل[۲۶]
- لیرې سیمو ته چېرته چې دوی ته د رخصت ورکړه ستونزمنه ده، لیږل کیدل[۲۷]
- له بسنده تریننګ پرته عملیاتو ته د ځواکونو استولو تمایل[۲۸]
- په هغو ځوانانو کې د انګیزې نشتوالی چې له کورنیو د جلا کیدو له امله پرې دا کار تحمیل شوی او یا هم د کورنیو له خوښې پرته[۲۹] یو ځای شوي وو او یا هم دا چې بې روزګاره وو[۳۰] یا هم دا چې په افغان پوځ کې د پیسو د آسانه پیدا کیدو په اړه دوی تمه لرلې ده.[۳۱]
- د آیساف د وتلو احتمال چې له ۲۰۱۲ کال وروسته یې په افغان پوځ کې رنګارنګ انعکاسونه درلودلي او بالاخره یې په دوی د مورال د بایللو تر کچې اغیز کړی.[۳۲]

in Daman (Kandahar), April ٢٠١٣. See Partlow, ibid. , for an example of a soldier who complained about being sent on mission to enemy-infested Wardak.

١٨ Matthew Rosenberg, "Afghan Army Recruits Face Tougher Screening", Wall Street Journal, ٩ February ٢٠١١.

١٩ Interview with ANA high rank officer in Maywand, April ٢٠١٣.

٢٠ Nordland, ibid.

٢١ Interview with ANA captain in Logistic Department of Defence Ministry, April ٢٠١٣.

٢٢ Interview with American Advisor, Camp Shorabak, April ٢٠١٣.

٢٣ Some deserters still proud of having been in the ANA stated this reason in Nordland, ibid.; interview with senior ANA officer in Paktya, April ٢٠١٣.

٢٤ Nordland, ibid.; interview with ANA officer in Wardak province, April ٢٠١٣; interview with ANA officer in Baghlan province, April ٢٠١٣.

٢٥ Nordland, ibid.; interview; interview with ANA officer in Wardak, April ٢٠١٣; interview with senior ANA officer in Paktya province, April ٢٠١٣.

٢٦ Partlow, ibid.

٢٧ Interview with ANA general, Mod central region, April ٢٠١٣; interview with ANA officer in Khost province, April ٢٠١٣; interview with ANA officer in Daychopan (Zabul), April ٢٠١٣.

٢٨ Cahn, ibid.

٢٩ Khwaja Baseer Ahmad, "Youth join Afghan army due to family disputes," Pajhwok Afghan News, ۶ August ٢٠١٠.

٣٠ Interview with ANA soldier, Chak (Wardak), April ٢٠١٣; interview with ANA soldier in Qalat (Zabul), March ٢٠١٣; interview with ANA officer in Daychopan (Zabul), April ٢٠١٣; interview with ANA soldier in Kandahar City, April ٢٠١٣; interview with ANA soldier, Moqur (Ghazni), March ٢٠١٣.

٣١ Human Terrain System, "ANA and CF Partnership in Khost and Paktiya," AF٠١, ۴ BCT (ABN) ٢۵th IN DIV, FOB SALERNO, APO AE ٠٩٣١۴, ٢٣ February ٢٠١٢, p. ٩; David Zucchino, "Afghan army recruits say they›ll be ready to go solo", Los Angeles Times, ٢ January ٢٠١٣.

٣٢ Nordland, ibid.

په دې برخه کې پوښتل شوو کسانو تایید کړې ده چې یو څه لا پخوا ښکاره وو. پوښتل شوو کسانو منلې چې ډېری عسکر تر ډېره د بې تخصصی له وجې بې کاره وو او تر ډېره پورې له کوره د لېرې خدمت لپاره د تمایل نشتوالی او نور ګوابنونه چې دوی لیدلي لیوالتیا هم کمه شوې ده.[۳۳] په دې سربېره یو شمیر پوښتل شوو کسانو د افسرانو له خوا ناسمه رویه هم د یوه عامل په توګه یاد کړې دی.[۳۴]

۱ګراف: د ۲۰۰۲ کال له جولای څخه د ۲۰۱۳ کال تر سپتمبر پورې په افغان ملي پوځ کې د ځواکونو شمېر د کمېدو میاشتنۍ کچه (٪)



۲ګراف په ډګر کې د وژل شویو منصوبینو میاشتنۍ کچه



۳ګراف: د قول اردو ګانو په لحاظ د ځواکونو شمېر د کمېدو کچه




۱جدول: د ۱۹۸۸ او ۲۰۱۱ کلونو ترمنځ د افغان پوځ د ځواکونو د شمېر د کمېدو کچه

| د ځواکونو د شمېر د کمېدو کلنۍ کچه | |
| --- | --- |
| | د کال د پیل د ځواکونو سلنه |
| ۱۹۸۸ | ۳۶ ۶ |
| ۲۰۱۱ | ۳۴ .۲ |

سرچینه: ا. ګوستوزي، په افغانستان کې جګړه، سیاست او ټولنه، ۱۹۹۲-۱۹۷۸، لندن: هرست، ۲۰۰۰، افغانستان کې د ناټو روزنیز ماموریت

۳۳ Interview with ANA Colonel, MoD, April ۲۰۱۳; interview with ANA captain, MoD, April ۲۰۱۳; interview with ANA officer in Baghlan province, April ۲۰۱۳.

۳۴ Interview with ANA officer, Kandahar city, April ۲۰۱۳.

# ۳. په روزونکو تکیه

د پوځ د وړتیاوو روزنه او پرمختګ اوږدمهالي پانګونې ته اړتیا لري. په تیره بیا دا چې د مسلکي توب او یا هم د ناګمارل شوو بریدمل ډلګیو د استولو په اړه اندېښنې موجودې وي. د دې اندېښنو د لیرې کولو لپاره یوه لاره په بهرنیو روزونکو او مشاورینو تکیه کول دي کوم چې افغان پوځ له خپل پیل راهیسې هماغه راز کړی دي.

ډیری څارونکي په دې اند دي چې د افغان پوځ روزنې د ملي پولیسو د هغو په پرتله تر ډیره ښې پایلې درلودلې دي، که نور هیڅ نه وي د پوځي اداري (دفاع وزارت) په خپله دنده کې د بل وزارت چې نظامي اداره ده (کورنیو چارو وزارت ) ډیر ښه وو.[۳۵] د ګزمې، وسلې ساتنې او لومړنیو مانورونو د مهارت په څیر لومړنیو مهارتونو کې افغان پوځ په تیرو کلونو کې په ښه ډول وده درلودلې ده.[۳۶] په دې برخو کې د افغان پوځ وده له دې هم معلومیږي که څو کاله وړاندې چې دوی به د امریکایي ځواکونو له ملتیا پرته په لیرې پرتو سیمو کې د امنیت ساتنې دنده په غاړه نشوای اخیستی د افغان پوځ د ځواک د ښه کیدو ښه بېلګه یادیدای شي.[۳۷]

په هر حال، هره ژر مهالې وده له د یو شمیر نیمګړتیاوو له رامنځته کیدو پرته نه وي. یو دا رنګ اغیز هم د وړتیاوو د ادلون بدلون لپاره تمایل دی او دغه راز د روزونکو لپاره اړتیا ده کومه چې داسې ډولونه رامنځته کوي چې له محلي شرایطو سره ډیر وړ نه دي.

## ۳.۱ د وړتیاوو ادلون بدلون

د ناټو د غړو هیوادونو له خوا د لومړنیو نظارتونو د اغیز ښندنی اړوند مهمه پوښتنه تل د اوږدمهالي پایدارۍ په اړه ده. د روزونکو رپوټونه ښیي چې تر ۲۰۱۱ کال پورې د افغان پوځ د ځواکونو د عملیاتي وړتیا خپلواکه وده ډیره کمزورې وه (دوهم جدول وګورئ). د ۲۰۱۱کال په اګست میاشت کې د افغان پوځ یوازې یوه قطعه د دې وړ وه چې له آیساف ځواکونو پرته په خپلواک ډول عملیات وکړي، خو بیا هم د آیساف د روزونکو ملاتړ ته اړ دي، د آیساف لوجیستیکی مرستو او دغه راز د آیساف د وسایلو او طبي پاملرنې په څیر ملاتړونو ته (دوهم جدول وګورئ).[۳۸] دا حقیقت چې د ۲۰۱۲ کال تر پایه د افغان پوځ د هغو قطعاتو شمیر چې په خپلواک ډول یې عملیات کولای شي ۳۰ ته لوړه شوه خو د دغې ارزونې په اړه یې یو شمیر شکونه راپورته کړل.[۳۹] د یادولو وړ ده چې د خپلواکو (له روزونکو سره ) قطعاتو ورته شمیر د ۲۰۰۸ تر ۲۰۰۹ کلونو تر منځ وخت کې هم د ۲۰۰۹ کال د وروستیو وختونو هغې کچې ته چې په افغانستان کې د ناټو روزنیز ماموریت نوی تشکیل شوی و ګرځیدلی وو، د کوم چې موخه د امنیتي لېږد ګډه قوماندانې (CSTC-A) روزنه وه.

د ۲۰۱۳ کال په نیمایي کې آیساف ادعا وکړه چې له شپږویشتو نه پنځه کنډکونه په خپلواک ډول د عملیاتو جوګه دي او پاتې پنځلس نور له مشاورینو سره یو ځای په خپلواک ډول کولای شي چې د دغه کار تر عهدې ووځي چې دا ډېره ښه وده ښیي. خو دا ناحله پوښتنه پرځای پاتې ده چې آیا دا وده کولای شي چې په افغانستان کې د ناټو روزنیز ماموریت د فارغینو په پام کې نیولو سره د مشاورینو او روزونکو له ملاتړ پرته په دفاع وزارت او کنډکونو کې دوی یوائې پاتې شي کنه.[۴۰] له شپږو څخه څلور قطعات لا هم مشاورینو ته اړتیا لري تر څو وکولای شي چې موثر واقع شي.[۴۱]

---

۳۵ Lewis G .Irwin, "Reforming the Afghan National Police, "Joint Forces Quarterly, issue ۵۲, ۱st quarter ۲۰۰۹, p. ۷۴–۵.

۳۶ Jon Boone, "Afghan National Army prepares for life after Nato," The Guardian, ۲۰ July ۲۰۱۱; Danel Korski and Michael Williams, "The end of NATO and the danger of US unilateralism, "London : RUSI, ۲۰۰۸, p. ۱۴۹; interview with former mentor, London, February ۲۰۱۰. For a different, more negative assessment, see Daniel L. Davis, "Truth, lies and Afghanistan, "Armed Forces Journal, February ۲۰۱۲.

۳۷ For the case of Arjistan district see Matt Zeller, Watches without time (Charlottesville : Just World Books, ۲۰۱۲), p. ۱۳۱.

۳۸ Sara Sorcher, "Will the Afghan Army Be Ready?" Atlantic, ۲۷ September ۲۰۱۱.

۳۹ See also Anthony Cordesman, "Afghanistan: meeting the real world challenges of transition," Washington : Center for Strategic and international Studies, ۲۰۱۳, p. ۴۴; Larry Shaughnessy, "GAO: Military lowering bar to evaluate Afghan troop progress," CNN, ۲۵ July ۲۰۱۲; Charles Recknagel, "How Ready Is The Afghan Army?" Radio Free Europe/Radio Liberty, ۲۰ March ۲۰۱۲.

۴۰ Howard LaFranchi, "Is Afghanistan ready to defend itself?" Christian Science Monitor, ۲۵ June ۲۰۱۳; interview with senior ISAF official and his team, Kabul, April ۲۰۱۳. Another source put the number of ANA brigades able to operate independently at ۲۲, including two new ones (interview with senior IJC officer, April ۲۰۱۳).

۴۱ Interview with senior ISAF official and his team, Kabul, April ۲۰۱۳.

۲جدول: د افغان پوځ د قطعاتو د ارزونې کچې

| نېټه | خپلواک (له مشاورینو سره) | له مشاورینو سره موثر | له همکارانو سره موثر | له همکارانو سره د ودې په حال | اړمن | ناتوان | نوي رامنځته شوي | نا ارزول شوي |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۲۰۱۲پای | ۳۰ | ۱۳۵ | ۳۹ | ۱۱ | | | | |
| اگست ۲۰۱۱ | ۱ | ۵۶ | ۵۸ | ۲۹ | | | ۱ | ۵۱ |
| اپریل ۲۰۱۱ | ۰ | ۵۶ | ۵۵ | ۳۲ | | | ۱ | ۱۶ |
| فبروری ۲۰۱۱ | ۰ | ۵۲ | ۶۴ | ۲۷ | | | ۳ | ۱۳ |
| جنوری ۲۰۱۱ | ۰ | ۴۳ | ۵۸ | ۳۲ | | | ۱ | ۱۱ |
| نوامبر ۲۰۱۰ | ۰ | ۴۷ | ۳۵ | ۴۶ | | | ۲ | ۲۱ |
| سپتمبر ۲۰۱۰ | ۰ | ۳۲ | ۳۹ | ۴۱ | | ۰ | ۱ | ۱۶ |
| اگست ۲۰۱۰ | ۰ | ۲۹ | ۴۰ | ۴۱ | | ۰ | ۰ | ۲۴ |
| جون ۲۰۱۰ | ۰ | ۲۴ | ۳۷ | ۴۱ | | ۵ | ۴ | ۲۷ |
| می ۲۰۱۰ | ۰ | ۲۷ | ۲۴ | ۲۸ | | ۵ | ۰ | ۱۹ |
| می ۲۰۰۹ | ۲۹ | | | | ۲۱ | ۲۸ | ۵ | ۲۹ |
| دسمبر ۲۰۰۸ | ۱۸ | | | | ۲۶ | ۲۶ | ۲ | |
| جون ۲۰۰۸ | ۳ | | | | ۳۸ | ۱۸ | ۷ | |
| مارچ ۲۰۰۸ | ۱ | | | | ۲۶ | ۲۶ | ۱۰ | |
| جنوری ۲۰۰۸ | ۰ | | | | ۱۳ | ۳۷ | ۱۰ | |
| جنوری ۲۰۰۷ | ۰ | | | | ۱۰ | ۳۵ | ۳ | |
| جون ۲۰۰۶ | ۰ | | | | ۶ | ۳۹ | ۳ | |

سرچینه: په افغانستان کې د ناټو روزنیز ماموریت

له ۲۰۰۲ کال وروسته افغان پوځ په بهرنیو مرستو متکی دی، په دې تمه چې د روزونکو له خوا له چمتووالو وروسته مخکښ رول او حتی قومانده په لاس کې واخلي.[۴۲] په نتیجه کې حتی افغان پوځ د خپلو قطعاتو لپاره د ملاتړ وړتیا وموندله خو له دې وړتیا استفاده ځکه ونشوه چې تر دې دا آسانه ښکاریده چې د وړتیاوو د رامنځته کولو لپاره په آیساف تکیه وشي.[۴۳]

داسې ښېلګې شته چې له ۲۰۱۱ تر ۲۰۱۲ پورې د افغان پوځ له خوا په جدي ډول په بهرنیو مشاورینو تکیه راکمه شوې (او حتی د ماتې تر کچې دوی دا ریسک پر ځای منلی). د آیساف ځواکونو په قول اردو چې د افغان پوځی ځواکونو لومړني بشپړ خپلواک عملیات د ۲۰۱۳ کال په اوړي کې پیل شول.[۴۴] حتی تر دې چې د افغان پوځ افسرانو به ویل چې دوی کولای شي له طالبانو سره د امریکایي ځواکونو له ملاتړ پرته مبارزه وکړي.[۴۵]

یو عمده نظر د افغان پوځ د افسرانو تر منځ دا دی چې افغان پوځ بهرني ملاتړ ته اړتیا لري ځکه چې د درنو وسلو او نږدې هوایي ملاتړ له نشتوالي سره مخ دي.[۴۶] یو افسر دا دلیل وایي چې افغان پوځ له استخباراتو (په تیره بیا له انسانانو پرته استخباراتي معلوماتو) پرته چې له آیساف څخه یې تر لاسه کوي موثر کار نشي کولای.[۴۷]

۴۲ Scott Stokoe, "Thoughts on Training for Advise and Assist Brigades", weblog, ۸ April ۲۰۰۹ (http://usacac.army.mil/BLOG/blogs/llop/۲۰۰۹/۰۸/thoughts-on-training-for-advise-and-assist-brigades.aspx).(Accessed -۱۴ November ۲۰۱۰)/۰۴/archive/

۴۳ Stokoe, ibid.; Graham Lee, Fighting season, London: Duckwork Overlook, ۲۰۱۲, p. ۱۸۹; Sam Jacobson, "Afghanistan Diaries: Teachers and Doctors, "Dissent magazine, November ۱۰, ۲۰۱۱.

۴۴ NTM-A sources, Kabul, September ۲۰۱۳.

۴۵ Dexter Filkins, "After America," New Yorker, ۹ July ۲۰۱۲.

۴۶ Interview with Gen. Raufi, Kabul, April ۲۰۱۲.

۴۷ Interview with ANA officer in Nangarhar province, April ۲۰۱۳; Beth Stevenson, "ISAF withdrawal prompts Afghan air power changes," ۱۸ February ۲۰۱۳ (http://www.shephardmedia.com/news/digital-battlespace/isaf-withdrawal-prompts-afghan-air-power-changes/).

حتی په ۲۰۱۰ کال کې د پیل شوې ملګرتیا د نظریې له مخې د یوه افغاني شوي پراختیایي پروګرام په پلي کولو نه بریالی کیږي. افغان لوری هم له دې امله دا ملګرتیا (پارټنرشیپ) ردوي چې په خپلو پښو د دریدو لپاره به بیا د افغان قطعاتو د دریدو لپآره اغیزمن نه وي، لکه چې د دفاع وزیر ښاغلی رحیم وردک خپله دا ویره مني او د د امنیتي لېږد د ګډې قوماندانۍ یو شمېر چارواکي هم ورته نظر لري.[48]

ځینې وخت د مشاورینو له خوا ترسره کیدونکی رول هم د افغانانو په کاري چارو کې مداخله بلل شوې ده:

امریکا په ټولیز ډول د چارو واګې په خپل لاس کې اخیستی. دوی دلته وسلې راوړې او افغان پوځ ته یې له دوی سره د خبرو یا پرېکړو فرصت ورکړ. موږ محاربوي قومانده درلوده، زه خپله چې د یوې قطعې قوماندان یم د امریکایي ځواکونو له یوه قوماندان سره چې د ماموریت قومانده ورپه غاړه وه سره له هغه امنیتي مسوول سره چې د وسلو د ساتنې دنده ور په غاړه وه ټول په یوه دفتر کې وو. په بنسټیز ډول موږ د افغان قطعې له قوماندان څخه د قوماندې له اخیستو پرته د افغان پوځ د دغه رهنمایي کوونکي مجلس پر مهال تصمیم نیوه.[49]

هغوی چې له روزونکو قطعاتو سره به یې سفر کاوه کم وخت په هغه ډول چې افغان افسرانو به په موثر ډول افغان قطعات رهبري کول دغو روزونکو لېدا ډول موثر اغیز ښنده.[50] دوهرتې د روزونکو په اړه د افغان پوځ د هغه قطعاتو رپوټونه ثبت کړي چې قوماندان یې تښتیدلی او روزونکو ځواکونو یې مشري په غاړه اخیستې، دا روزونکي ځواکونه په جګړه کې دوی ته د ځای د انتخاب، تاکتیکي حالاتو د حل او نورو برخو کې د افغان پوځ د قومانده ورکوونکو افسرانو د نشتوالي په صورت کې حلوي او دغه راز افغان پوځ له لاندې کیدو ژغوري، قطعات یې بیا تنظیموي او نامنظم شوي قطعات بیرته منظموي.[51] بیټایي یوه بیلګه راوړي چې پکې روزونکی ځواک د خپل مسوولیت له مخې پریکړه کوي چې یو ناموثر بریدمل لیرې کړي.[52] یو شمیر افغان افسران حتی شکایت کوي چې روزونکو پرته له دې چې دوی خبر کړي وای جګړې ته داخل شوي دي.[53] په داسې حال کې چې په روزونکي ځواک برید په عین ډول په افغان قطعاتو اغیز کوي.[54]

## ۳.۲ ناسم ماډل

د تقویه کېدو په تر ټولو بد ډول تکیه کول هغه هم لږترلږه له تکتیکي پلوه، د ځمکې په پاکولو او پېژندلو کې د افغان ځواکونو پر روزنې ټینګار، یو داسې تکتیک چې په پراخه کچه په نژدې هوایي ملاتړ متکي کېږي او د ناټو په معیار برابرېږي.[55] ډېری افغان افسران اوس په هوایي ملاتړ اموخته شوي دي:

ما بیا بیا د افغان پوځ قومندانانو ته وویل چې خپل ځواکونه له هغو کسانو سره جګړې ته چې غواړي د دوی پر سنګرونو بریدونه وکړي، وروګرځوي، خو هغه په بېړه ځواب راکړ "نه، تاسو الوتکې او چورلکی راوغواړئ! دوی کولای شي دښمن ووژني".[56]

نور هم دا ښیي چې ډېری افغان افسران تر ټولو زیاته تکیه په نژدې هوایي ملاتړ کوي.[57] د یوه افسر وینا ده:

هغه مهال چې امریکایي ځواکونه افغانستان پرېږدي، موږ په بشپړ ډول چمتو یو چې برلاسي شو او له دې امله چې موږ خپل هوایي ځواک نه لرو، موږ به د بهرنیو ځواکونو هوایي ملاتړ ته اړتیا ولرو.[58]

---

۴۸ Jan Erik Haug, "The Operational Mentoring And Liaison Team Program As A Model For Assisting The Development Of An Effective Afghan National Army," (thesis, Fort Leavenworth, ۲۰۰۹) p. ۸۳.

۴۹ Human Terrain System, "ibid.

۵۰ Stephen Grey, Operation Snakebite.(London: Viking: ۲۰۰۹), pp. ۷۶, ۸۵.

۵۱ Richard Doherty, Helmand mission, (Barnsley : Pen & Sword, ۲۰۰۹), pp. ۶۱, ۶۴, ۹۵, ۹۷, ۱۰۱, ۱۱۲, ۱۱۳, ۱۱۴, ۱۲۴.

۵۲ Doug Beattie, Task Force Helmand, (London: Pocket Books : ۲۰۰۹), p. ۸۸.

۵۳ Interview with former ANA officer, Kabul, October ۲۰۰۹.

۵۴ Benjamin Tupper, Greetings from Afghanistan send more ammo, (New York : New American Library, ۲۰۱۰), p. ۱۵.

۵۵ Interview with ISAF mentoring manager, Kandahar, April ۲۰۱۰.

۵۶ Tupper, ibid., p. ۲۸.

۵۷ Interview with former mentor, London, February ۲۰۱۰; David Zucchino, "Afghan army could help unify a nation," Los Angeles Times, ۱۲ November ۲۰۰۶. For an example of how tactical stalemates could only be broken by close air support even in early ۲۰۱۳ see Azam Ahmed, 'With Swagger, Afghan Army Takes the Lead', New York Times, ۷ April ۲۰۱۳.

۵۸ Carmen Gentile, "Troops balance fighting, mentoring Afghans," USA Today, ۱۳ July ۲۰۱۳.

لویدیځو څارونکو پر دې هوکړه وکړه:

> ځینې شنونکي اندېښنه لري که له افغان ځواکونو څخه هوایي ملاتړ لرې شي نو دوی به له مهمو لاسته راوړنو بې برخې شي. [یو شنونکی] وایي:[۵۹] "دا فوق العاده مهمه ده چې افغان امنیتي ځواکونه دېته لاسرسی ولري او طالبان په دې پوهېږي، چې دوی دې ورتیا ته لاسرسی لري".

د افغان هوایي ځواک په پرمختیا کې ځنډ (۴.۲ عنوان ولولئ) د افغان پوځ په هغو جګړه ییزو واحدونو کې چې روزل شوي او د جګړې پر مهال پر نژدې هوایي ملاتړ د تکیه کولو توصیه ورته شوې ژور اغېز لري. که څه هم ایساف ځواکونو د ۲۰۱۴ کال تر پایه تر بشپړو وتلو پورې افغان ځواکونو ته د هوایي ملاتړ ضمانت ورکړی ، خو د ۲۰۱۲ په دوبي کې لا له وړاندې د مشوره ورکوونکو د کمېدو له امله د افغان پوځ واحدونو ته په دا ډول ملاتړ ورکولو کې کموالی راغلی دی.[۶۰]

په ۲۰۱۳ کال کې د نژدې هوایي ملاتړ برابرول خورا محدود شول؛ د آیساف یو جنرال غوښتل لرل چې دا قانوني کړي او مهمات هم په زیاته کچه کم کړي، ځکه چې افغان پوځ هدفونه نه شي ثابتولای او د دې ورتیا نه لري، چې اکمالات تنظیم کړي.[۶۱] افغان ځواکونه، چې په دغو جګړو کې تلفات وراوړي د دښمن تر تاثیر لاندې راوستلو کې به ډېر اغېزمن نه وي.[۶۲]

په حقیقت کې هغه مهال چې جوته شوه افغان پوځ په یوازې سر مقابله نه شي کولای آیساف په ۲۰۱۳ کال کې د افغان پوځ د ملاتړ لپاره هوایي ځواک برابر کړ، آن په اصطلاح له هغو سیمو بهر چې ډېر مهمې بلل کېږي، د بېلګې په ډول د بدخشان وردوج او د هلمند ځینې برخې. له ۲۰۱۳ کال د دوبي راهیسې په هغو عملیاتو کې چې افغان ځواکونو په خپلواک ډول ترسره کړي د ایساف ښکېلتیا شاوخوا ۲۰ سلنه وه، افغان ځواکونو په خپلواک ډول عملیات ترسره کړل، چې د مرستې غوښتنه هم ترې کېده.[۶۳]

په ورته ډول د پلان جوړونې په برخه کې د مشاورینو تمایل دا و، چې د ناټو په څېر د یوې غیر متمرکزې تګلارې د رامنځته کولو لپاره هڅې وکړي، چې د عملیاتي پلانونو جوړولو او عملي کول پکې شامل دي، چې افغانانو د ښې روزنې او په زده کړو د سمبالو افسرانو او بریدملانو پرته د دې توان نه درلود چې دا په بریالیتوب عملي کړي.[۶۴] امرخیل د دې پایلو په اړه وایي: "موږ، د پلان جوړولو لپاره یو پوځي کارپوه هم نه لرو".[۶۵]

## ۳.۳ لرلیدونه

لومړی دا چې په نورو تکیه کول د یوې ستونزې په توګه نه مطرح کېږي، ځکه حقیقي پوځي پلان دا وو، چې افغان ځواکونو ته آن له ۲۰۱۴ وروسته هم (له استخباراتي معلوماتو نیولې بیا تر هوایي ملاتړ پورې) چمتو شي.[۶۶] دا یوازې امریکایان نه و چې د اوږدمهاله اړیکو لرلو لپاره به یې چنې وهلې. د دفاع وزیر عبدالرحیم وردګ (۲۰۰۴ – ۲۰۱۲) هم په دې کې شامل و.[۶۷] له ۲۰۱۲ – ۱۳ پورې په دغه مېتود کې اساسي بدلون راغی، ځکه په واشنګټن کې سیاسي تصمیم نیوونکو په لویه کچه د بهرني ملاتړ د کمېدو خبره کوله. د ۲۰۱۲ کال په وروستیو کې دا روښانه شوه هغه پرېکړه چې په واشنګټن کې شوې امریکا ته به د دې اجازه ور نه کړي چې آن له ۲۰۱۴ کال وروسته زیات پرتلیز ملاتړ چمتو کړي، او ښایي دا کار له دغې مودې ژر وشي.[۶۸] په دې پړاو کې، اغیزمنه سیاسي اراده به افغان پوځ په خپل ځان متکي کړي، خو د هدف ترلاسه کولو لپاره دا وخت کم دی.

د ۲۰۱۳ کال په جون کې د امنیتی لېږد دبهیر د بشپړېدو سره سم افغان امنیتي ځواکونو په ټول افغانستان کې د پوځي عملیاتو رسمي مشري پر غاړه واخیسته.[۶۹] وروسته له دې د افغان پوځ یوه خوشبینه سرتېري وویل چې افغان پوځیانو په ولایتونو کې له هغه څه

---

۵۹ Jim Michaels, "Loss of U.S. air power a worry in Afghanistan," USA Today, ۲۸ April ۲۰۱۳.

۶۰ Beth Stevenson, "ISAF withdrawal prompts Afghan air power changes," ۱۸ February ۲۰۱۳ (http://www.shephardmedia.com/news/digital-battlespace/isaf-withdrawal-prompts-afghan-air-power-changes/).

۶۱ Interview with IJC source, Kabul airport, August ۲۰۱۳.

۶۲ Nordland, ibid.

۶۳ Interview with high level IJC souce, Kabul airport, August ۲۰۱۳; interview with IJC source, Kabul airport, August ۲۰۱۳.

۶۴ David H. Park, "Identifying the center of gravity of Afghan mentoring," Military Review, November-December ۲۰۱۰.

۶۵ "Pundit says Afghan forces unable to ensure security after foreign forces leave," Tolo News, ۲۹ October ۲۰۱۲. See also "Chai and combat: French train Afghan army at frontline," Agence France Presse, ۲۳ December ۲۰۰۸.

۶۶ Sorcher, ibid., quoting Gen. Caldwell.

۶۷ Rajiv Chandrasekaran, "Afghan security force's rapid expansion comes at a cost as readiness lags, "Washington Post, ۲۱ October ۲۰۱۲.

۶۸ Ernesto Londoño and Rajiv Chandrasekaran, "Some in administration push for only a few thousand U.S. troops in Afghanistan after ۲۰۱۴,"Washington Post, ۹ January ۲۰۱۳; Paul Adams, "US troops will end 'most' Afghanistan combat this spring," BBC News, ۱۱ January ۲۰۱۳.

۶۹ Mursal Mansoory, "Afghan Forces to Lead All Military Operations in Few Weeks,"TOLOnews.com, ۲ June ۲۰۱۳.

ډېر اغېزمنه کارکردګي کړې چې له آیساف ځواکونو سره یې په ګډه عملیات کول.[۷۰] که چېرې دا حقیقت ولري او یا یې ونه لري، خو د افغانستان سیاسي مشرتابه اراده ښوولې چې د بشپړ پوځي کنټرول سره ملي حاکمیت ترلاسه کړي، چې په حقیقت کې دا یو ډول مثبت اغېز لري:



د افغان ملي پوځ یوه چورلکه د کابل له یوه پوځي مرکزه الوتنه کوي

> ما اورېدلي دي چې افغان چارواکي ورته خبرې کوي ,, دا زموږ لپاره فرصت دی، چې مشري پر غاړه واخلو او دا کارونه پخپله وکړو,,. په دې کې یو حس دی چې "دا زموږ وخت دی".[۷۱]

تر یوه بریده ښایي د افغان پوځ واحدونه د آیساف له ملاتړه پرته له تندلارو سره مقابله وکړي، د بېلګې په ډول هغه روزنه د جګړې په ډګر کې عملي کړي، چې ترلاسه کړې یې ده.[۷۲] د آیساف د ګډې قوماندانۍ (آی. جی. سي) یوه سرچینه وایي:

> موږ آن زیات شواهد لېدلي، چې ځومره موږ د دوی له مخې لرې شوي یو، دوی پرمختګ کړی او دا یوه طبیعي انساني رویه ده هغه مهال چې یو وړتیا لرونکی ملګری را مخ ته شي، بل تن ورته کیني او هغه پرېږدي، چې هر څه پر مخ یوسي.[۷۳]

د **۲۰۱۳** کال په لومړۍ نیمایي کې تندلارو لا هم په ډېرو پېښو کې له افغان امنیتي ځواکونو سره له مخامخ مقابلې ډډه کوله، خو آن د وړو ښتو دوام هم د افغان پوځ سرتېرو ته درانه تلفات اړولي او د رسمي شمېرو له مخې په **۲۰۱۳** کال کې **۲,۷۷۷** سرتېري وژل شوي دي.[۷۴] پوښتنه دا وه چې آیا افغان ځواکونه به د ایساف له ملاتړه پرته په کافي اندازه چمتو وي، چې په **۲۰۱۵** کال کې په یوازې سر جګړه وکړی. ضمناً د آیساف سرچینو ادعا کړې چې افغان پوځ د جګړې د لومړي فصل پر مهال د یوه مستقل ځواک په توګه بریدګر حالت غوره کړی دی، خو شواهد لا هم بې پایلو دي.[۷۵]

په ناڅو ځواکونو تکیه، چې افغان ځواکونه څو کاله د دښمن پر وړاندې ورسره اوږه په اوږه جنګېدلي د لندبل په څېر نه ده(**۳**،**۳**،**۲**، وګورئ). د **۲۰۱۳** کال په فبروري کې کله چې افغان ولسمشر حامد کرزي اعلان وکړ پرېکړه یې کړې د اوسېدو په سیمو کې افغان ځواکونه هوایي ځواک نه شي راغوښتلی هر څه جوت شول.[۷۶] دغې سیاسي پرېکړې یو ستر غبرګون له ځانه سره درلود، سناتورانو او پوځي شنونکو د ولسمشر په دې پرېکړه نیوکه وکړه او هغه حقیقتونه یې روښانه کړل چې په دغې پرېکړې به تندلاري نور هم زړور شي.[۷۷]

---

۷۰ Interview with senior ANA officer, Maywand, April ۲۰۱۳.

۷۱ Meeting with ISAF political officers, Kabul, April ۲۰۱۳.

۷۲ Human Terrain System, ibid.

۷۳ Interview with IJC source, Kabul airport, August ۲۰۱۳.

۷۴ Nordland, ibid., Alissa J. Rubin and Taimoor Shah, “Afghan Forces, Taking Lead, Hold Steady in Violent District, “New York Times, ۱۵ June ۲۰۱۳; Ahmad Ramin, “NATO Casualties Lowest in ۶ Years, Afghan Numbers Increase,”TOLOnews.com, ۱ January ۲۰۱۴.

۷۵ This point was made by several ISAF, NTM-A and IJC senior officers interviewed in September ۲۰۱۳.

۷۶ “Karzai to Ban Afghan Forces from Requesting Airstrikes,” VOA News, ۱۶ February ۲۰۱۳.

۷۷ Rafi Sediqi, “Afghan Forces Need Air Support From Foreign Troops: Senators,” TOLO news, ۲۸ May ۲۰۱۳; “People are waiting for Mr Karzai’s response,” Arman-e Melli, ۱۷ April ۲۰۱۳.

## ۴. د جګړې ییز ملاتړ د کافي کچې د رامنځته کولو وړتیا

هغسې چې پورته په ۳.۱ کې وښوول شول، زیاتو هغو افغانانو چې مرکې ورسره شوي په کافي اندازه د افغان پوځ د تجهیزولو او پخپل ځان د بسیا کېدو په برخه کې د ناکامۍ پړه پر آیساف ځواکونو اچوي.بهرني سلاکاران چې ټول یې په یو نظر نه دي په دې باور دي، افغانان درانه تجهیزات غواړي چې د ویاړ او سیالۍ جوګه یې کړي او دا د ګاونډیانو عکس العمل راپاروي.[۷۸] دا وړاندیز هم شوی، چې د افغانستان په دفاع وزارت کې مهم کړه وړه، او دغه راز په آیساف کې هغه خطرونه چې د تجهیزولو د لګښتونو په اړه دي هم تاییدوي په دې قیمت چې د (ریښتینتوب او درک د جګړې د ځواک یوه برخه ده چې د افغان امنیتي ځواکونو بریالیتوب او ناکامي معلوموي)[۷۹]

خو بیا هم افغان مرکه شوي په دې غوښتنه کې سره یو دي، که په هر ډول وي افغان پوځ دې په مناسب ډول په وسلو سمبال شي. دا غوښتنه ډېر اړخونه لري چې نه شي کېدای په دې پاڼه کې یې د ټولو په جزییاتو بحث وشي. د بحث لپاره دوه شیان غوره شوي، په درنو وسلو د افغان ملي پوځ او افغانستان هوایي ځواک سمبالول.

### ۴.۱ موردي ارزونه: توپچي

په ۲۰۰۲ کې چې د افغانستان د دفاع وزارت بېرته خپل ځای ته راوستل شو، له هغه راهیسې د افغانستان د دفاع وزارت اړ کړای شو، چې د لویدیځ د ملاتړ د بې میلۍ له امله د درنو وسلو غوښتلو ته زیات لومړیتوب ور نه کړي. د یوې پایلې په توګه، د افغان پوځ د توپچي برخه چې په ۲۰۱۲ کې وه لا هم کمزورې ده؛ یوه غونډ ته له ۷-۸ لنډه کي توپونه ورکړای شوي او د ۲۰۱۲ کال تر پایه له افغان ځواکونو سره (۸۵ ډي ۳۰ ) او امریکایي ساخت ۲۴توپونه وو، دغه راز د دویمې نړیوالې جګړې تاریخ تېره (ام ۱۱۴) توپونه ورسره دي، چې د ترکیې له لوري مرسته شوي او تر ډېره په پوځي پرېډونو کې کارول کېږي.[۸۰] د نورو ( ۱۲۴ ډي-۳۰ ) توپونو نه ګټه اخیستل ادامه لري.[۸۱] افغان امنیتي ځواکونو یوازې د ۲۰۱۳ کال په اوړي کې[۸۲] په زیاته اندازه له توپخانې کار واخیست؛ دغه څنډ د تصفیوي واحدونو په منځ کې د کمزورۍ احساس پیدا کړ. په ۲۰۱۲ کال کې د افغانستان د دفاع وزیر له مرستندویانو د عصري وسلو او اوږده واټن توغندیو غوښتنه وکړه، خو رد شوه. دغې غوښتنې ته ځواب دا وو د هغو عصري توپکو په مقابل کې چې په لویدیځ کې جوړ شوي د (ډي- ۳۰ ) ساتل او کارول اسانه دي. په حقیقت کې افغان پوځ د جګړې په ډګر کې په بشپړه توګه له هغه څه سره ستونزه لرله چې له (۲۰م م) مرمیو نه غټې وې.[۸۳] د افغان پوځ د قوماندې او کنټرول متمرکز سېستم، چې د توپچي بریدونو اجازه باید پکې د کنډک د قوماندانۍ په کچه ورکړل شي، په ډېرو تکتیکي حالاتو کې یې د توپچي د کارونې ممانعت کړی دی.[۸۴]

په ټوله کې، د آیساف/ په افغانستان کې د ناټو روزنیز ماموریت (ان ټي ام – آی) پام په دې ورټول و چې د توپخانې اکمالات او د اورپکۍ ضد مبارزه کې په مناسب ډول د دې چمتو کول د افغان پوځ لپاره اغیزمن پرېوتی شي.په ځانګړي ډول، آیساف د ښو روزل شویو کشفي پولیسو پر اهمیت ټینګار کوي، چې له لرې پر موقعیتونو په مستقیم ډول د ډز کولو وړتیا ولري. د همدې لپاره چې ځواکونه ډاډه شي روزل شوي توپچیان مسلکي شوي په شخصي مدریت مخ په زیاتېدونکي ډول فشار اچوول کېده.[۸۵] د افغان پوځ د توپچي مشرتابه پیاوړتیا او وده هم په ۲۰۱۳ کال راڅرکنده شوه.

---

۷۸ Interview with senior ISAF officer and his team, Kabul, April ۲۰۱۳; Interview with senior IJC officers, Kabul, April ۲۰۱۳.

۷۹ Interview with senior ISAF officer and his team, Kabul, April ۲۰۱۳.

۸۰ The Military Balance ۲۰۱۳, London : International Institute of Strategic Studies, ۲۰۱۳, p. ۲۷۸; Interview with ANA major, Kabul, April ۲۰۱۳.

۸۱ John Wendle, “Bombs Away: Will Afghanistan’s Artillerymen Learn How to Shoot Right?”,Time, ۱ November ۲۰۱۲; Nathan Hodge, “Ready or Not, Afghans to Take Over Security Kabul Will Officially Get Handover From Coalition in Coming Week’, “Wall Street Journal, ۱۴ June ۲۰۱۳.

۸۲ Interview with Col. Brito, IJC, ANSF development, Kabul Military Airport, September ۲۰۱۳.

۸۳ Nathan Hodge, “Afghans Seek More Military Hardware, “Wall Street Journal, ۳۱ December ۲۰۱۲; Steven Beardsley, “Training Afghan artillery teams a lesson in patience,” Stars and Stripes, ۱۸ December ۲۰۱۲; interview with IJC officer, Kabul airport, August ۲۰۱۳.The Afghan media also participate in the campaign in favour of a more heavily equipped ANA: “Afghan pundits stress need to provide security forces with modern weapons”, excerpt from report by privately-owned Noor TV on ۳ December ۲۰۱۲, in Dari ۱۳۰۰ GMT.

۸۴ Embedded in Afghanistan, “Kandaks”, ۲۳ October ۲۰۰۹ (http://bc۲۳۵.blogspot.co.uk/۲۰۰۹/۱۰/kandaks.html)./

۸۵ Interview with senior IJC officer, Kabul airport, September ۲۰۱۳.

بل بحث چې د آیساف له لوري رامنځته کېده هغه دا وو چې پرمختللې تکنالوژي او درنې وسلې به د اورپکی ضد هڅو کې د دې پر ځای چې ګټه وکړي، زیان وکړي او دا به جګړه ییز واحدونه یوازې پر یوې لارې محدود کړي چې دا به د ځارنې چاره پېچلې کړي.[۸۶]

افغانانو ته په خوب کې ویل شوي چې د جګړې پر مهال د آیساف هوایي ځواک، توپونه او آن ټانکونه د اورپکی ضد جګړه کې کاروي. دوی دغه راز ټینګار کوي، که افغان ځواکونه پر پوله پرتو پوستو ته د ځواکونو د استولو د مورال دوام غواړي نو افغان پوځ باید په کرار کرار د دې وړتیا په لرلو باوري شي چې و به کړای شي د پاکستان له لوري دودیزو بریدونو ته ځواب ووایي.[۸۷]

د توپخانې د ترکیباتو کمی، او هغه قرارداد چې د ملی پوځ ټول واحدونه به په (ام ۲۲۴ ۲۰ م م) سپکو هاوان توپونو سمبال وي د **۲۰۱۳** کال تر فبروري پورې نه و لاسلیک شوی. د اوړې پر مهال د ځواکونو سخته روزنه چې په ستمبر کې هم روانه وه آیساف د (۲۰ م م) هاوان توپونه د افغان پوځ لپاره ستره پانګه وبلله، یوه اسانه لار چې په چټکی سره یې د استعمالولو تکتیک هغو واحدونو ته لېږدول کېږي، چې له دوښمن سره په جګړه کې ښکېل دي.د آی جې سي د سرچینو له قول اردو راپور ورکړای شوی، چې د هاوان لېږدونه د افغان ځواکونو د روحیې لوړولو لپاره یو لوی ګام دی.[۸۸]

په هر صورت، د دې لپاره چې ځمکنۍ پوستې تر پوښښ لاندې راوستل شي افغان ملي پوځ له **۲۰۱۴** کال وروسته هم درنو وسلو ته اړتیا لري، چې له یوه ځایه بل ځای ته د تلونکو تندلارو پر وړاندې کارول یې اغېزمن وي، په وړو واحدونو کې یې کارول عادي وي او د هاوان استعمال باید دقیق وي. تر **۲۰۱۲** کال پورې دا لا هم عادي ده چې د هاوان او توپچي دا سې عمله موجوده وي، چې پر خپلو وسلو باندې هدف په اغېزناک ډول نښي په نښه کولای او پر ځای یې په دې تکیه کوي، چې په تدریجي ډول خپلې نښې د مخامخ مشاهدې پر بنسټ عیارې کړي.[۸۹]

په سمه توګه د روزل شوې عملې نشتوالی څو فکتورونه لري. د دوی په منځ کې یو فکتور دا هم و، چې په افغانستان کې د ناټو روزنیز ماموریت (ان ټي ام – اې ) د افغان توپخانې ځارنه یوازې د **۲۰۱۱** کال په جون کې هغه مهال پیل کړه چې د ځارنې لومړنۍ دوه ډلې د لوید بځې او شمالي پوځي لوا ( **۲۰۷** او **۲۰۹** )[۹۰] لپاره وټاکل شوې. له دې سره سره د ملی پوځ د قطعې یو شمېر سرتېرو له دې وړاندې هم روزنه ترلاسه کړې وه.[۹۱]

له **۲۰۱۲** تر **۲۰۱۳** پورې د غیر مستقیمو ډزو کولو په برخه کې د افغان پوځ د ځینو واحدونو وړتیا لوړه شوه په تېره د (جي پي اس) ټکنالوژۍ کارولو په برخه کې.[۹۲] آن کله چې توپچي واحدونه غواړي د غیر مستقیمو ډزو په نسبت د موثریت ښوولو لپاره خپل کارکوونکي مسلکي کړي په افغان پوځ کې د تعلیم لرونکو کسانو اساسي کمښت د دې پر ضد کار کاوه. د یوه افغان افسر خبره ده:

> دا له دفاع وزارت سره زموږ یوه ستونزه ده. دا یو ناسم مدیریت دی. موږ د مناسبې دندې لپاره سم خلک او سم فرصت غواړو. ځینې وختونه دوی توپچي ته دا سې یو کس راولېږي، چې هغه په لوژیستیکي برخه کې روزل شوی وي او کله د توپچي د برخې یو کس د لوژیستیک برخې ته رالېږي.[۹۳]

۸۶ See for example, “Afghan Army Should be Equipped with Heavy Arms: MoD,” TOLOnews.com, ۲۰ November ۲۰۱۰; “Afghan commander in north says they need heavy weapons, air force”, Text of report by Afghan Ariana **TV** on ۱۹ June ۲۰۱۲; Sean Carberry, “Afghan Army Seeks Better Equipment, But Lacks Basic Skills, “National Public Radio, ۲۸ October ۲۰۱۲; Vegard Valther Hansen, et. al, ibid., Jordan Swears, “Tip of the Spear: Training and Mentoring the Afghan Artillery, “Fires, ۱ September ۲۰۱۲ (http://www.readperiodicals.com/۲۰۱۲۰۹/۲۷۷۹۸۹۷۶۸۱.html#b).

۸۷ Vegard Valther Hansen, et al., ibid. See also Abdol Wahed Faramarz, “Tough Job Ahead for Under-Resourced Afghan Forces,” Institute of War and Peace Reporting, ۱ July ۲۰۱۳; “Afghanistan military forces fighting in mountainous border still face aggressive fight, “Associated Press, ۴ July ۲۰۱۳.

۸۸ “Arsenal gets contract for Afghan army mortars,” Timesunion.com, ۲۰ February ۲۰۱۳ ( http://www.timesunion.com/business/article/Arsenal-gets-contract-for-Afghan-army-mortars-4294967.php#ixzz2ROnMj77f); Interview with senior IJC officer, Kabul airport, September ۲۰۱۳; Interview with Maj. Gen. Dean Milner, NTM-A, September ۲۰۱۳; Interview with Brig. Gen. Howard, IJC, September ۲۰۱۳; Interview with Maj. Gen. McLachan, IJC, September ۲۰۱۳; interview with IJC source, Kabul airport, August ۲۰۱۳.

۸۹ Hodge, ۲۰۱۳, ibid., John Wendle, “Bombs Away: Will Afghanistan’s Artillerymen Learn How to Shoot Right?,” Time, ۱ November ۲۰۱۲. See also Michael J. Wood, “۸۲-mm Mortars: Working with Afghan National Army Mortar Teams, “Fires, March-April ۲۰۱۰.

۹۰ NTM-A, “Ministry of Defense (MoD) and Afghan National Army (ANA) Weekly Assessment,” (۲۲ May ۱۱).

۹۱ Paul Watson, “Time running out to teach Afghan soldiers to be self-sufficient, “Toronto Star, ۲۵ October ۲۰۱۰; Kevin K. Parker et al., “Coalition-ANA Partnering, “Fires, Jul-Aug ۲۰۰۹.

۹۲ David Loyn, “Afghan National Army counts cost of war,” BBC News, ۱۴ June ۲۰۱۳.

۹۳ John Wendle, ibid.

د (آی جې سي) یوې سرچینې تایید کړې:

> په وروستیو کې موږ یو کنترول درلود، چې خلک په کومو ځایونو کې د توپچي په ښوونځیو کې روزل کېږي، یوازې ۵۰ سلنه کسانو د توپچي څانګې ته د ورتلو د اجازې لرلو کارتونه ډکول او نور د کمپنۍ د قومندانانو له لوري تېرېدل، چې یوه منشي او یا د هم د غونډ قومندان ته اړتیا لرله چې هغوی بیا موټر چلوونکي ته اړتیا لرله.[۹۴]

## ۴.۲ موردي ارزونه: افغان هوايي ځواک

د یوه رنګ شوي هوايي ځواک پراختیا یو اوږد او پېچلی بهیر دی، په ځانګړي ډول له جګړې وروسته هېوادونو کې چې د زده کړو سیستم یې د څو کلونو لپاره په بد ډول ویجاړ شوي وي، لکه افغانستان چې په ۲۰۰۲ کال کې و. د راپورونو له مخې د امریکا متحد ایالتونو ژمنه کړې وه، چې افغانستان به په ۲۰۰۹ کال کې یو ۸,۰۰۰ کسیز مسلکي هوايي ځواک ولري. په هر صورت، کارونه له تمې ډېر ورو ول.[۹۵] د ۲۰۰۷ کال تر پسرلي چې کله (سي اس تي سي- اې ښکېل شول) او د افغان ملي هوايي ځواک غونډ د پوځ یوه برخه وبلل شوه ډېر لږ ملاتړ ترلاسه شوی و.[۹۶] نژدې ټول افغانان د لویدیځ له لوري د افغانستان له هوايي ځواک سره د غیر موثر کمک په اړه شکایت کوي. د افغان ملي پوځ یو افسر وايي: ،، زموږ مشران وړتیا لرونکی هوايي ځواک غواړي، خو د امریکا متحده ایالات دغه غوښتنه نه اوري،،.[۹۷]



د افغان ملي پوځ دوه چورلکې د کابل له یوه پوځي مرکزه الوتنه کوي

هغه مهال چې افغانان د یوه نوي هوايي ځواک د جوړېدو په تړاو ضمني ننګونې کم ارزښته وګڼې، واقعیت دا دی چې له افغان هوايي ځواک سره د مرستې پروګرام په حقیقت کې د څو کلونو څنډ له امله وروسته پاتې شوی دی. سربېره پر دې، تر هغه چې د هوايي ځواک د ځوان نسل عمله او د دې برخې میخانیکان/مستریان روزل کېږي، د هغه هوايي ځواک عملې ته چې په ۱۹۸۰مو کلونو کې روزل شوي باید لاسرسی وي او کېدای شي د تشې د ډکولو لپاره دوی وروزل شي. په ښکاره د هوايي ځواک یو شمېر کارکوونکي بیا وروزل شول او له ۲۰۰۷ کال وروسته په سملاسي ډول ځای پر ځای شول: دا او د نویو کسانو روزل باید څو کاله وړاندې پیل شوي وای. د دې پر ځای د ډونرانو د ژمنو د نه پوره کېدو معنا دا وه چې د ۲۰۰۲ کال په پرتله د ۲۰۰۷ کال په لومړیو کې هوايي غونډ ډېر لږ پرمختګ کړی و. که په ۲۰۰۲ کال (لږترلږه د ناټو په معیار) افغانستان د الوتو هېڅ الوتکه نه لرله د ۲۰۰۷ کال په لومړیو کې افغانستان یوازې ۳.۲ پورې باروړونکې الوتکې او د څارنې څرخي الوتکې لرې.[۹۸]

۹۴ Interview with IJC source, Kabul airport, August ۲۰۱۳.

۹۵ Interview with Atiqullah Amarkhel, Kabul, April ۲۰۱۳.

۹۶ Jason Straziuso, "In need of aircraft, Afghan air force struggles to get off the ground," Associated Press, ۹ October ۲۰۰۷; interview with senior IJC officer, Kabul airport, August ۲۰۱۳.

۹۷ Interview with ANA major, Kabul, April ۲۰۱۳.

۹۸ Todd Pitman, "At busy air base, Afghan air force commander has no planes to fly," Associated Press, ۱ May ۲۰۰۲.

(سي اس تي سي – اې) د ۲۰۰۷ کال په پسرلي کې د هوایي غونډ د روزنې په پروګرام کې ښکېل شوې، خو د افغانستان د هوایي ځواک د بیارغېدو پرمختګ هماغسې پخ پاتې شو. یوازې د یوه جلا افغان هوایي ځواک جوړېدل ( چې د افغان پوځ له یوه ساده غونډ سره توپیر ولري، هغسې چې د ۲۰۱۰ کال تر جون پورې و د مشترتابه د اندېښنو ښوولو وروسته یې پرمختیا چټکه شوه.[۹۹] د افغان هوایي ځواک د پراختیا لپاره د ببېړې نشتوالی به ، پرته له هغو حقیقتونو چې د ۲۰۱۱ کال تر جولای پورې چې د آیساف د کمېدو کېدو لپاره هېڅ پلان نه و ،د حیرانتیا وړ وي. هغسې چې د ۲۰۱۰ کال په نومبر کې د ناټو د هوایي روزنې د کنټرول، قومندان جنرال الوین ویلي، د دغه بهیر د چټکولو لپاره داسې هېڅ پلان نه و، چې افغان هوایي ځواک یوه داسې پړاو ته ورسېږي، چې په (بشپړ ډول په پښو ولاړ وي)، د دغه پروګرام لپاره ۲۰۱۲ کال وټاکل شو.[۱۰۰]

د افغانانو له بې صبرۍ سره سره، بهرني څارونکي له خپل احتیاط نه دفاع کوي، دوی د هغې پېښې په ګډون چې په پایله کې یې نژدې ولسمشر کرزی وژل شوی و ، هغو پېښو ته اشاره کوي، چې تر دې وړاندې د کمزورې روزنې له امله رامنځته شوې وې.[۱۰۱] په واقعیت کې د هوایي ځواک ډېره فیصدي د روزنې لپاره امریکا ته واستول شول چې وتښتېدل او دغه راز په دې برخه کې پرمختګ هم پخ شو.[۱۰۲]

څه شی د هوایي ځواک بې پروایي ته لار هواره کړې؟ په ۲۰۰۷ کال سېت جونز راپور ورکړ، چې امریکایي افسران خوښ نه دي چې افغانستان دې په لنډه موده کې پرمختللي هوایي ځواک ته اړتیا ولري او د جنګي جېټ الوتکو د اخیستو لپاره دې فوق العاده پیسې پرې کړي. جونز وایي:

> هغسې چې د امریکا متحده ایالات او د ناټو هېوادونه اراده لري چې هوایي ځواک جوړ کړي، زما په باور تمرکز باید د ځمکنیو وړتیاوو په جوړولو وشي. [هغه په ټینګه زیاته کړه ،لیکوال].[۱۰۳]

په افغانستان کې د اوږد مهاله مصروفیدو تمه باید تر ۲۰۱۱ کال پورې د عجلې نشتوالی واضح کړي؛ وروسته له دې له ګډوډیو ډکه قوه او قانوني نانډرۍ وهل، هغسې چې د مناسبو روزونکو په موندلو کې واقعي ستونزې ښایي تشریح کړي چې ولې د ۲۰۱۳ کال تر مارچ پورې افغان هوایي ځواک د ترلاسه کولو بهیر تر اوسه له ګډوډیو سره مخامخ دی. د یوه هوایي ځواک د پراختیا په برخه کې لویې ننګونې له پوځ سره توپیر لري، دا فرعي او ځمکني ملاتړ اړتیا لري او د دې لپاره پیاوړو تعلیم لرونکو او تخنیکي استعدادونو ته اړتیا ده. دا روښانه ده چې افغان وسله وال ځواکونه له ۲۰۱۴ نه مخکې خنډونو سره لاس او ګرېوان دی.

## ۴.۲.۱ تجهیزات

د افغان ملي پوځ د هوایي غونډ په توګه د افغانستان د ملي پوځ په اډانه کې د هوایي ځواک د یو ځای کېدو ابتدایي پریکړې د امریکایانو احساس منعکس کړ چې د افغان پوځ د ملاتړ لپاره دې هوایي ځواک محدود وسائل شي او د همدې لپاره یو حقیقي دفاعي قابلیت نه و پلان شوی. آن د تکتیکي جګړه ییز ملاتړ په برخه کې لویه بې پروایي شوې ده. د افغان هوایي ځواک د ګوتو په شمېر (ام آی- ۳۵) جنګي چورلکی د ډېر وخت لپاره د عملیاتو جوګه نه وې، ځکه دغو الوتکو ماشینګنې نه لرلې او نه داسې روزل شوې عمله وه، چې دغه ماشینګنې وکاروي.[۱۰۴] دغه الوتکې د لومړي ځل لپاره د ۲۰۱۳ کال په اوړي کې د جنګي عملیاتو لپاره واستول شوې.[۱۰۵] آن چې په ۲۰۱۳ کې ډېره ناوخته شوه د (ام، آی – ۳۵) چورلکو د فعالیت د دوام نېټه هم پای ته ورسېده او یوازې د دغو الوتکو دوو یې په ورکړای شوي وخت کې فعالیت کاوه.[۱۰۶]

۹۹ Interview with senior IJC officer, Kabul airport, September ۲۰۱۳.

۱۰۰ “Allvin: no plans to accelerate Afghan Air Force mission before ۲۰۱۶,”Inside the Air Force, ۲۶ November ۲۰۱۰.

۱۰۱ Karzai went back for a period to flying in American helicopters after the accident. See Stewart Nusbaumer, “The New Afghanistan Air Force,” Air & Space, January ۲۰۱۱.

۱۰۲ Ibid.

۱۰۳ Straziuso, ibid.

۱۰۴ Ibid. Personal communication with foreign military attaché in Kabul, March ۲۰۱۰; Cid Standifer, “Russian-made chopper faces ironic future in Afghanistan, “Stars and Stripes, ۲ July ۲۰۱۳.

۱۰۵ Shamshad TV, Kabul, in Pashto, ۲۶ July ۲۰۱۳, ۰۶۳۰ GMT.

۱۰۶ Department of Defense, ‘Report on Progress Toward Security and Stability in Afghanistan’, July ۲۰۱۳, cit., p. ۸۳.

تمرکز تر ډېره د ترانسپورت د وړتیاوو پر لوړولو و، خو د الوتکو د غلط انتخاب او په ناسم ډول د وسایلو د کارولو له امله افغان هوايي ځواک د ۲۰۱۳ کال تر مني له مهمو ترانسپورتي الوتکو څخه چې جوړې وي بې برخې و.[۱۰۷] آن د یو لوی شمېر نویو جوړو شویو (ام آی -۱۷) منل هم ستونزمن شول. (ام آی-۱۷) په روسیه کې په یوه پیچلي شکل جوړې شوي، ځکه د متحده ایالتونو قانون پر دې محدودیت لري چې د امریکا په مرستو دې له هېواده بهر پوځي وسایل واخیستل شي.[۱۰۸] د ۲۰۱۳ کال په مني کې د لومړنۍ (سي-۱۳۰ ایچ) په راتلو ځینې ترانسپورتي وړتیاوې دوباره ورغول شوې، خو د افغان ادارو لپاره یې اغېز کافي نه و. دوی دغه مهال له روسیې نه د پنځو (ان ۷۴) الوتکو د اخیستو په اړه خبرې اترې پیل کړې وې.[۱۰۹] د ۲۰۱۳ په پسرلي کې ایساف د هوايي حمل و نقل په یوه ستراتیژیک پروګرام کار کاوه، چې له کابل نه د غونډونو تر ځایونو پورې د افغان امنیتي ځواکونو لېږد اسانه شي، په ځانګړي ډول د سرتېرو د رخصتیو د نوبت د ملاتړ لپاره.[۱۱۰] په واقعیت کې په ۲۰۱۳ کال کې قراردادیانو لا له وړاندې د (اس، اې، ال، ټي) پروګرام د یوې برخې په توګه د افغان پوځ د مرستې لپاره پروازونه کارول چې د رخصتیو پر مهال سرتېري خپلو کورونو او بېرته دندو ته په رسولو کې هڅوی ته اسانتیاوې برابرې کړي.[۱۱۱] د ایساف له وتلو وروسته د دا ډول پروګرامونو شته والی تر پوښتنې لاندې دی.

له دې علاوه، د کابل نا امیدیی ته کتو په آیساف پرېکړه وکړه چې د افغان هوايي ځواک جنګي وړتیا تر ۲۰ وړو بریدګرو الوتکو محدوده کړي. حتی د ( اې-۲۹) دوربین لرونکو بریدګرو الوتکو برابرول هم یو کال د بېروکراسۍ د ستونزو له امله وځنډېدې.[۱۱۲] د ۲۰۱۳ په اوړي کې داسې الوتکې هم وې چې ځینې (ام آی-۱۷) په وسلو سمبالې شي او په ځمکنیو بریدونو پورې محدودې وي، په ځانګړي ډول په غرنیو سیمو کې[۱۱۳].

په ۲۰۱۲ کال افغان ځواکونه نیت لري چې د اورپکۍ ضد دوربین لرونکې (اې -۲۲) سوپر ټوکانو وړې الوتکې ترلاسه کړي، چې د زړو (ام آی- ۳۵) ځای ونیسي. نه مخالف وسله وال او نه هم افغان امنیتي ځواکونه چې د جګړې په ډګر کې دي ښکاري چې له دغې سرمایې زیات اغیزمن شي. په هر صورت دا چې ډونران د څو راتلونکو کلونو لپاره د جېټ جنګي الوتکو د لرلو له امله د افغان هوايي ځواک په وړتیا شک ښیي، نو د اورپکۍ ضد جګړه کې د سوپر ټوکانوز الوتکې چې لارښودې وسلې هم لېږدوې مناسبې ارزول شوي دي.[۱۱۴]

ځینې منابع داسې اشارې کوي، چې افغان هوايي ځواک ښايي د راوبن په څېر د محدودې وړتیا لرونکې ځینې وړې تکتیکي بې پیلوټه الوتکې ترلاسه کړي.[۱۱۵] دا ښیي چې افغان ځواکونه به دغه راز په ډیجیټل کامرو سمبال یو شمېر ساده بالونونه او پایې هم ترلاسه کړي. دغه راز داسې پلان هم شته چې ۱۸(پي سي ۱۲) برېښنايي استخباراتي وړتیا لرونکې الوتکې هم ولېږدول شي او ځینې (سي-۲۰۸) هم په کامرو سمبال شي.[۱۱۶]

۱۰۷ Interview with senior IJC officer, Kabul airport, September ۲۰۱۳; "Afghanistan welcomes cancellation of Italian-made planes," Khaama Press, ۲۹ December ۲۰۱۲; Joshua Partlow, "Maintenance faults ground Afghan air force, "Financial Times, ۳ July ۲۰۱۲; Nathan Hodge, "Maintenance Snafu Grounds Afghan Fleet, "Wall Street Journal, ۲۵ May ۲۰۱۲; Abdul Wali Arian, "US to Purchase Aircraft, Drones for Afghan Air Force,"TOLOnews.com, ۱۴ January ۲۰۱۳.

۱۰۸ "Mi-۱۷ Helicopter Sale: Mi-۱۷ Helicopters Bought by US from Russia, Draws Criticism, "Associated Press, ۹ December ۲۰۱۳.

۱۰۹ Sayed Jawad, "Airbus to provide tactical transport Aircraft to Afghan army," Khaama Press, ۱۸ January ۲۰۱۳; Andrea Shalal-Esa, "US Air Force aims to transfer C-۱۳۰ planes to Afghanistan'," Reuters, ۳۰ January ۲۰۱۳; Gopal Ratnam and Tony Capaccio, "Afghan Military's Illiteracy Complicating U.S. Departure, "Bloomberg, ۳۱ January ۲۰۱۳; "From Solution to Scrapheap: The Afghan AF's C-۲۷A Transports, "Defense Industry Daily, ۱۶ January ۲۰۱۳; 'Officials comment on need to equip Afghan air force', Text of report by Channel One TV (۱TV) on ۲ January ۲۰۱۳ (BBC Summary of World Broadcasts); SayedJawad, "Afghanistan to purchase An-۷۴ cargo planes for Afghan forces," Khaama Press, ۱۹ May ۲۰۱۳ ; "Afghanistan's efforts to establishing air force", Daily Afghanistan,۲۲ May ۲۰۱۳;Shamshad TV, Kabul, ۲۶ July ۱۳ in Pashto ۰۶۳۰ GMT; Interview with senior IJC officer, Kabul airport, September ۲۰۱۳.

۱۱۰ NTM-A Senior Commanders, April ۲۰۱۳.

۱۱۱ Interview with high level source in IJC, August ۲۰۱۳; 'Securing Afghanistan's future', ibid., p. ۱۳۰.

۱۱۲ Craig Whitlock, "U.S. military criticized for purchase of Russian copters for Afghan aircorps", Washington Post, ۱۹ June ۲۰۱۰; "USAF issues stop-work order on Afghanistan A-۲۹ aircraft,"airforce-technology.com, ۵ January ۲۰۱۲; Dave Majumdar, "Afghan Light Air Support saga continues, "Flight Global, ۶ December ۲۰۱۲.

۱۱۳ Interview with high level source in IJC, Kabul airport, August ۲۰۱۳.

۱۱۴ Abdul Wali Arian, "US To Buy ۲۰ Fighter Planes For Afghan Air Force: Isaf," TOLOnews.com, ۲۸ May ۲۰۱۳; "NATO pledges more combat, transport aircraft for Afghanistan", Ariana TV, ۲۲ May ۲۰۱۳, in Dari ۱۵۳۰ GMT; Interview with senior IJC officer, Kabul airport, September ۲۰۱۳.

۱۱۵ Interview with senior IJC officer, Kabul airport, September ۲۰۱۳; Interview with Brig. Gen. Ballard, IJC, September ۲۰۰۹.

۱۱۶ Interview with senior IJC officer, Kabul airport, September ۲۰۱۳.

## ۴.۲.۲ بشري سرچيني

په ۲۰۰۷ کې د امریکا له ښکېلتیا وړاندې، د افغان هوايي ځواک هوايي چوکاټ ته هېڅ پاملرنه نه کېده.[117] له ۲۰۰۷ کال وروسته په دې برخه کې یو څه پرمختګ راغی؛ د پروازونو شمېر زیات شو، خو د دفاع وزارت له لوري هوايي ځواک ته د کمزوري بشري ځواک معرفي کولو ډېر ځله روزنه اغېزمنه کوله او ستونزې یې را ولاړولې. روزونکو ته ویل شوي چې بېسواده مستریان وروزي چې رنګه کوډونه کاروي.[118] له دې علاوه په ۲۰۰۷ کال کې چې کله امریکا د هوايي ځواک روزنې ته ملا وتړله د پیلوټانو اوسط عمر ۴۳ کاله وو او د دوی ډېرو د ځو کلونو لپاره پروازونه نه وو کړي.[119] په ۲۰۰۷ او ۲۰۰۸ کلونو کې دغه فکتورونه په ۱۸ میاشتو کې د شپږو الوتکو ( چې لویه برخه یې څرخي الوتکې وې )[120] د لوېدو لامل شول. که څه هم له دې وروسته بیا د الوتکو د لوېدو تکرارېدل کم شول، په ۲۰۱۲ کال کې هغه مهال چې هوايي پروازونه باید د ځو میاشتو لپاره پر ځمکه زده او کچه یې پراخه شي د څارنې په برخه کې یې نوی کړکېچ رامنځته شو.[121] د الوتکو د عملې د بې احتیاطۍ او د څارنې د نشتوالی په اړه منظم راپورونه ورکړای شول.[122]

د ۲۰۱۳ کال په بشپړېدو ټول هغه خدمت کوونکي پیلوټان، چې د شوروي روزنه یې ترلاسه کړې وه او باید د معیاري کېدو لپاره نوره روزنه ورکړای شوې وای په ۱۹۹۰یمو کلونو کې له منځه ولاړل؛ او هوايي ځواک یوازې ۲۰ تنه جنګي عمله لرله.[123] د پیلوټانو نوې روزنه په ۲۰۰۷ کال کې پیل شوه او افغان زده کوونکي په جرمني، ترکیه، هند، متحد عرب اماراتو، د چک جمهوریت او د متحده ایالتونو د الوتکو د پروازونو په ښوونځیو کې شامل شول.[124] د ۲۰۱۳ کال تر پسرلي ۱۵۰ پیلوټان تر روزنې لاندې و، چې ډېرو یې په امریکا او د چک په جمهوریت کې زده کړې کولې.[125] دغه راز داسې بحثونه هم کېدل چې افغان پیلوټان په ورته ډول په هند کې هم وروزل شي.[126] په واقعیت کې لږترلږه په چک کې د (ام آی – ۱۷) د روزل شوې عملې په اړه اندېښنه وه، په دغه جمهوریت کې د پیلوټانو د روزنې چاره ډېره ورو وه او ټول زده کوونکي د روزنې لپاره مناسب نه وو.[127]

د څرخي او ترانسپورټي الوتکو د پیلوټانو روزنه دغه راز د هرات په شینډنډ کې هم کېږي، دغلته د ۲۰۱۳ کال تر جون پورې ۱۲۴ پیلوټان روزل شوي او د ۲۲ نورو روزنه روانه ده.[128] په هر صورت دا لا ۲۰۱۳ کال نه و، چې امریکا د پیلوټانو لپاره په ځمکه د روزنې تجهیزات افغان هوايي ځواک ته راوړل.[129] د پیلوټانو زوړ نسل د تقاعد عمر ته رسېدلی دی، که څه هم ځینې یې لا هم د ځو کلونو لپاره غواړي کار وکړي. وړاندې له دې چې دوی په نویو الوتکو پرواز وکړي او ځان له هغو سره بلد کړي دوی تازه کورسونو ته اړتیا لري.[130] ځکه د (ان ټي ام- اې) هدف دا دی چې د الوتکو عمله له ۱-۱ نه تر ۱،۵-۱ پورې د ناټو معیار ته راوستل شي چې لا هم دا لرې برېښي.[131]

په روزنه کې ځنډ ډېر کله د روزنې لپاره د کمزورو کسانو انتخاب و؛ یوازې د ۲۰۱۲ په اوړي کې د هوايي ځواک د انتخاب لپاره معیار وټاکل شو. ټول مقررېدونکي باید باسواده او ټول باید رضاکاره وي، په ځانګړي ډول د افغان هوايي ځواک لپاره.[132] په ۲۰۱۳ کال کې داسې نښې نښانې پیدا شوې چې افغان هوايي ځواک ته ټاکل شوي د پوهنتون سابقه لري.[133] مقرري د معاشونو د نه سیالۍ له

---

۱۱۷ Slobodan Lekic, "Afghan air force learns to fly -- and fix aircraft," Associated Press, ۱۸ January ۲۰۱۲.

۱۱۸ Ibid., Richard Johnson, "An Afghan Air Force, "National Post, ۲۱ September ۲۰۱۲.

۱۱۹ Straziuso, ibid.

۱۲۰ Nusbaumer, ibid.

۱۲۱ Partlow, ۲۰۱۲, ibid.

۱۲۲ For example, an AN-۳۲ crew flying with a malfunctioning oxygen mask: NTM-A, "Afghan Air Force (AAF)/Air Interdiction Unit (AIU) Weekly Assessment," ۵ January ۲۰۱۱; the failure of logistics to deliver rotor hub oil: NTM-A, "Afghan Air Force (AAF)/Air Interdiction Unit (AIU) Weekly Assessment," ۱۲ February ۲۰۱۱.

۱۲۳ House of Commons Defence Committee, 'Securing the Future of Afghanistan', ibid, pp. ۱۷۳-۴.

۱۲۴ Interview with AAF officer, Kabul, April ۲۰۱۳; "Afghan Military Pilots To Get U.S. Training," RFE/RL, ۱۴ May ۲۰۰۹; Sanjeev Miglani, "Analysis: With an eye on ۲۰۱۴, India steps up Afghan role, "Reuters, ۹ November ۲۰۱۱; Carol Huang, "Afghanistan's new armed forces receive training in the UAE," The National, ۲۰ October ۲۰۱۱.

۱۲۵ Frud Bezhan, "Afghan Air Force Struggles To Take Off, "Radio Free Europe/Radio Liberty, ۶ May ۲۰۱۳.

۱۲۶ Miglani, ibid.

۱۲۷ SIGAR, 'Afghan Special Mission Wing',ibid., p. ۷.

۱۲۸ Haseeb Maudoodi, "U.S. Boosts Afghan Air Force With New Training Equipment,"TOLOnews.com, ۳ July ۲۰۱۳.

۱۲۹ ibidi.

۱۳۰ Interview with AAF officer, Kabul, April ۲۰۱۳.

۱۳۱ Interview with senior IJC officer, Kabul airport, September ۲۰۱۳.

۱۳۲ Interview with senior IJC officer, Kabul airport, September ۲۰۱۳.

۱۳۳ Interview with Maj. Gen. Dean Milner, NTM-A, September ۲۰۱۳.

املە هماغسې پخه او له ستونزو ډکه وه.[۱۳۴] سره له دې چې د سواد له مخې د مقررېو په پایله کې د میخانیکانو/ مستریانو د زده کړو کیفیت لوړ شو.[۱۳۵] په هر صورت په **۲۰۱۳** کال کې د سوپروایزرانو په څارنه کې له دې کبله کمښت راغی، چې دوی د لوړو معیاري زده کړو او د انګلیسي ژبې د زده کړې اړتیا لرله، چې په اسانۍ سره یې ملکي کارکوونکي جذب کړي. یوې سرچینې وویل:

> که تاسو تخنیکي مهارت ولرئ او د الوتکو ښه ساتنه وکړای شئ نو تاسو به ممکن د اماراتو هوایي چلند لپاره کار کوئ.[۱۳۶]

دغلته د قراردادیانو د حضور سره سره چې له نویو لېږل شویو الوتکو ساتنه کوي د خدماتو کچه تر ډېره بریده کمزورې ده. د **۲۰۱۳** په جون کې د **۴۱** په اسانۍ ساتل کېدونکو ایم آی **۱۷** الوتکو له ډلې یوازې له **۲۵-۲۸** پورې یې کار وړ وې.[۱۳۷]

د دې ترڅنګ له افغان ملي پوځ سره د افغان هوایي ځواک د نژدې هوایي ملاتړ د برابرولو وړتیا هم له دوی سره د همغږیو په وړتیا پورې تړلې ده. دغه څرګندونې د استازو دجرګې وې:

> لا هم د بشپړ نژدې هوایي ملاتړ وړتیا نه شته او د کمې روزنې ترلاسه کوونکو هوایي کنترول کوونکو، پیلوټانو او ځواکونو ترمنځ د اړیکو په ټینګولو کې لا هم محاوره نیمګړې ده. یو بشپړ پرواز به دغه راز په غرنۍ سیمه کې لا هم مناسب نه وي.[۱۳۸]

د **۲۰۱۳** کال په اوړي کې د آي جې سي له لوري د اور کنټرولولو پروګرام پېشبیني شوی و، چې په دې برخه کې لومړنی افغان پرسونل وروزي، خو (پرته له لایزري په نښه کوونکو او .... خو له ځمکنیو واحدونو سره د هدفونو د همغږي کولو وړتیا، د دوستانه ځواکونو یقیني کول او د ملکیانو خوندیتوب او دا چې وسلې باید په سم ډول وکارول شي روزنه ورکړای شي.[۱۳۹]

## ۴.۲.۳ لرلیدونه

د ایساف سرچینې ټینګار کوي، او دا ناشونې بولې چې د افغانستان د دفاع وزارت به آن هر هغه څه وکړي، چې د پیاده او ځمکنیو ځواکونو ترمنځ نژدې همغږي راولي او د ناټو د ۲۱مې پېړۍ له وخت سره برابر شي. دا به ډېره د هوښیارۍ خبره وي چې افغان هوایي ځواک وړوکی وساتل شي او تمرکز تر ډېره له وړاندې په پلان شویو عملیاتو وشي او د ډزو ملاتړ توپخانې ته پرېښودل شي.[۱۴۰] پرته له شکه ډېری افغان پوځیان له نقشو سره ستونزه لري او په **۲۰۱۳** کال کې په خپل وخت د نژدې هوایي ملاتړ برابرول ویروونکی فکر دی، آن که (ان ټي ام – اې) او آیساف د اور کنټرولوونکو روزنه هم چټکه کړي.[۱۴۱] په **۲۰۱۳** کې آیساف د هوایي ځواک د توپچي برخه په نادره توګه څکه راکمه کړه چې د آیساف د څارونکو د غیرحاضرۍ له امله افغان پوځیان د دې وړتیا نه لري، چې هدف سم په نښه کړي.[۱۴۲]

په **۲۰۱۳** کې هغو قراردادیانو چې د افغان هوایي ځواکونو په روزنه کې ښکېل واو، پېشنهاد وکړ، تر هغه چې افغان هوایي ځواکونه په بشپړ ډول د عملیاتو لپاره چمتو کېږي ۱۰ کاله نور وخت ته اړتیا لري، او د ځواکونو پلان شوی شمېر د هېواد جغرافیې ته په کتو په څرګند ډول غیر موثر دی.[۱۴۳] د آیساف له لوري هغه ارزونه چې شوې دا ده چې آفغان ځواکونه به د **۲۰۱۲** کال نه مخکې آن د ابتدایي خپلواکو عملیات هم ونه شي کړای.[۱۴۴] د **۲۰۱۳** کال په نیمایي کې آیساف اټکل وکړ، چې په حقیقي ډول د افغان هوایي ځواک د بشپړ تجهیز او عملیاتو لپاره له **۷-۸** نورو کلونو وخت ته اړتیا ده.[۱۴۵] د **۲۰۱۳** کال په پسرلي کې افغان هوایي ځواک د دې وړتیا لرله چې د ماموریت اکمالات وکړي سره له دې چې د افغان ځواکونو شمېر لا کم دی.[۱۴۶]

---

۱۳۴ SIGAR, ibid.

۱۳۵ Interview with senior IJC officer, Kabul airport, September ۲۰۱۳.

۱۳۶ Interview with high level source in IJC, Kabul airport, August ۲۰۱۳.

۱۳۷ Aazem Arash, "US to Purchase ۳۰ Mi-۱۷ Helicopters For Afghan Army,"TOLOnews.com, ۱۸ June ۲۰۱۳; Jim Michaels, "Afghan medical evacuation capabilities improving', "USA TODAY, ۲۴ June ۲۰۱۳; SIGAR, "Afghan Special Mission Wing: DOD Moving Forward with $۷۷۱.۸ Million Purchase of Aircraft that the Afghans Cannot Operate and Maintain," Washington, June ۲۰۱۳, p. ۹. "Securing the Future of Afghanistan", ibid.

۱۳۸ "Securing the Future of Afghanistan", ibid.

۱۳۹ Interview with senior IJC officer, Kabul airport, August ۲۰۱۳.

۱۴۰ Interview with Maj. Gen. McLachan, IJC, September ۲۰۱۳.

۱۴۱ Forward fire controllers direct artillery fire and air support by providing coordinates, but without being able like forward air controllers to designate targets electronically.

۱۴۲ Interview with Maj. Gen. McLachan, IJC, September ۲۰۱۳.

۱۴۳ Bezhan, ibid.

۱۴۴ Saleha Soadat, "Nato to Keep Drone for Post-۲۰۱۴ Support of Afghan Forces," TOLOnews, ۲۴ April ۲۰۱۳.

۱۴۵ Abdul Wali Arian, ۲۰۱۳,ibid.

۱۴۶ Saleha Soadat, ibid.

په ټولیز ډول دا اسانه ده چې پوه شئ ولې افغانان په معما کې دي. آیساف د هوایي ملاتړ په برخه کې د لوړې کچې باور لوبولی دی، او افغان ځواکونه یوازې پر همدې تکیه کوي. ، خو وروسته افغان ملي پوځ له دا ډول کولو نه زړه توري کېږي. په حقیقت کې په دې باید بحث وشي چې آیساف د وړتیا تشه رامنځته کړې او داسې تخنیکي نمونې یې ورته معرفي کړي، چې افغانان نه شي کولای هغه پخپله پلې کړي او هیلې یې بدلې کړي. د هغو مرستو د اندازې کچه چې د افغان هوایي ځواک لپاره پلان شوې اوس له مخکنیو هڅو سره چې ځواکونه باید ډېر کوچني شي د مقایسې وړ دی، او د تندلارۍ ضد مبارزه په لړ مصرف وشي هغسې چې په ۱۹۸۰ کې د سلاویا هوایي ځواک و.

# ۵. خپلواکه لوژستيکي وړتيا

## ۵.۱ د نيمګړي پرمختګ لاملونه

په لوېديځو اصولو کې د تقاضا په ملاتړ د اکمالاتو مفهوم د تاريخي لګښت له څېرکې شننې وروسته رامنځته شوی او موخه يې د اکمالاتو کمول دي، چې له لارې يې ټوليز لګښتونه کمېږي[۱۴۷]،، د شوروي سېستم چې په ۱۹۹۰ يمو کلونو کې جوړ شوی و د دې بشپړ معکوس و: په دې کې د سېستم د پرځای روان پاتې کېدو په موخه په اضافي اکمالاتو باندې تکيه کېده. که څه هم د دې سېستم پر پښو درول ګران پرېوتل، خو دا سېستم په ځانګړې ډول د کړکېچ پر مهال ډېر ارتجاعي وو. په ۱۹۸۰ يمو کلونو کې شورويانو په افغانستان کې د لوژستيک ستر اضافي زېرمتونونه جوړ کړ، چې له مخې يې له کړکېچنو حالاتو سره د مخامختيا په موخه د اکمالاتو درې پوړيز سېستم رامنځته کړ. په نورمالو حالاتو کې به اکمالات له کابل او يو څو نورو اکمالاتي مرکزونو نه کېدل. خو که د اکمالاتو دا ليکه به له خنډونو سره مخامخ شوه، هرې قول اردو د اتکا لپاره دوه سيمه ييز ډيپوګان لرل. په يوه کې به د شپږو مياشتو اکمالات موجود وو، په بل کې به د ۱۰ کلونو لپاره زېرمې پرتې وې، چې د وروستي ډول ډيپوګان يوازې د ولسمشر په اجازه فعالېدل.[۱۴۸] په ۲۰۱۳ کال کې د افغان ملي پوځ لپاره دا ډول کوم شی موجود نه و. په ۲۰۰۹ کال کې افغان پوځ څلور ډيپوګان لرل، چې درې يې په کابل او يو په کندهار کې و.[۱۴۹] يوه امريکايي څارونکي په خپلو څرګندونو کې وويل چې:

> که څه هم شوروي نظريه د [پردي فکر] استازيتوب کوي، له دې سره سره دا محافظه کاروان افغان ارزښتونو ته کمې ننګونې راولاړوي. له دغو ننګونو سره سره د دفاع وزارت ياد شوی هدف بيا هم د لويديځو لوژستيکي مرستو د پلي کولو لپاره د ناټو پر معيارونو تکيه کوي. د دفاع وزارت دا مني، چې د امريکا/ناټو سېستم خپلول افغان لوړپوړو چارواکو ته مهمې ننګونې پيدا کوي، ځکه چې دوی اړ دي د اکمالاتو پر بنسټ د جوړ شوي فعاليت له اوږدې مخينې ځانونه راوباسي او د نوي سېستم د پلي کولو لپاره اضافي هڅې وکړي. امريکايي اصول له دې کبله ستره ننګونه رامنځته کوي، چې افغان لوژستيکيان د لوړ قدرت د واټن له پياوړو جرياناتو سره مقابله وکړي او ډله ييزه هوکړه رامنځته کړي.[۱۵۰]

يوه لوژستيکي مشاور په خپله تشرېح کې وويل، چې افغان پوځ تل د "وړاندې پورې وهنې" دوديز لوژستيکي سېستم کارولی.،، دا يو له پورته-ښکته، په مرکز کې کنترولېدونکی سېستم دی، چې په ترڅ کې يې لوژستيکي اکمالات د ټاکلي وخت پر بنسټ په له وړندې نه ټاکل شوې اندازه تر سره کېږي.،، خو په ۲۰۰۷ کال کې امريکايي قرارداديانو د افغان پوځ لوژستيکي سېستم له سره د امريکا د اوسني پوځ له کړنلارې سره سم وليکه، چې د "راکش کولو "لوژستيکي سېستم بلل کېږي:

> د دغه سېستم بنياد په له ،، له ښکته-پورته،، خوا ته غوښتنو او د قطعو پر متغييرو اړتياو بنا دی. په دې نظريې کې يوه داسې لوژستيکي سېستم ته اړتيا ده، چې ښه خپلمنځي پوهاوی رامنځته کوي او غوښتنو ته چټک غبرګون ښيي. د راکش کولو لوژستيکي سېستم په پرتليز ډول پېچلی دی او لا ډېرې همغږۍ او يووالي ته اړتيا لري، خو که په سم ډول تر سره شي، په پرتليزه توګه اغېزناک او موثر دی، چې له مخې يې په سم وخت کې اړين اکمالات اړين ځای ته رسول کېږي.[۱۵۱]

د دې پايله تر ډېره بريده د يوی غير موثرې ګډولې منځته راتګ شوی دی.[۱۵۲] د افغان پوځ يوه افسر د کونړ په يوې لرې پرتې سيمې کې يوه خبريال ته وويل، چې ده ته د هغه څه يوازې ۲۰ سلنه رسي، چې د افغانستان د دفاع وزارت له لوري بايد ورکړل شي.[۱۵۳] والبسکي اټکل وکړ، چې په ټوله کې منصوبينو ته د اړتيا وړ رسېدونکي لوازم تر ۲۰ سلنې هم کم دي. دی همدراز پر دې باور دی، چې په پای کې به افغان پوځ چې کله له خپلو وسايلو سره پاتې شي، يو ځل بيا به د پورې وهلو سېستم ته ور وګرځي، په دې چې دا پوځ د کش کولو د ټوليز سېستم د خپلولو وړتيا نه لري.[۱۵۴]

---

۱۴۷ Douglas C. Richter, "Afghan Right: Linking a Stable Economic and Industrial Base to a Self Sustaining ANA Logistics Adjusted to Afghan Culture," Fort Leavenworth : U.S. Army School of Advanced Military Studies, United States Army Command and General Staff College, ۲۰۱۱.

۱۴۸ Interview with Atiqullah Amarkhel, Kabul, ۱۰ April ۲۰۱۳.

۱۴۹ Interview with Col. Wade Sokolosky, Fort Leavenworth, Kansas : Combat Studies Institute, Operational Leadership Experiences interview collection, ۱۹ June ۲۰۰۹.

۱۵۰ Douglas C. Richter, ibid.

۱۵۱ Steven Valeski, "ANA Logistics System, "Military Review, May–June ۲۰۱۲, pp. ۲۲–۳.

۱۵۲ Ibid., p. ۲۳, Richter, ibid., SIGAR, "Assessment of U.S. Government and Coalition Efforts to Develop the Logistics Sustainment Capability of the Afghan National Army', Washington, ۹ December ۲۰۱۱, pp. ۶۱–۲.

۱۵۳ Gentile, ibid.; interview with ANA Colonel, MoD, Kabul, April ۲۰۱۳.

۱۵۴ Valeski, ibid., p. ۲۴.

د افغان پوځ لوژستکیانو او لاربنودو افسرانو د دغه لوژستیکي سېستم له اندېښمنوونکي حالت سره ستونزې ګاللې، ځکه چې دوی پر دغه سېستم په بشپړه توګه نه دي پوه شوي. دوی د شونتیا تر بریده اکمالات زېرمه کړي، سره له دې ایساف ورسره په دې کار کې مخالفت کړی دی.[۱۵۵] همداراز د لوژستیک متمرکزې بڼې د اکمالاتو جریان هم ورو کړی دی، په دې چې لوړپوړو افسران د لوازمو په استولو کې د مقاومت هڅه کړې ده.[۱۵۶]

په خصوصي سکتور کې د سیالۍ مسلې دا ستونزه لا پسې سخته کړې ده. لوژستیکي ادارو دا مسله تر نورو ښه احساس کړې ده:

> د افغان پوځ د هغو مالي امتیازاتو کچه چې د لوژستیک او معلوماتي ټکنالوژۍ په څانګو کې مهارت لرونکو او د دغو څانګو د چارو د پر مخ بیولو لپاره تجربه لرونکو منصوبینو ته یې ورکوي د خصوصي سکتور له فرصتونو سره د سیالۍ جوګه نه دي. د بېلګې په توګه، د افغان پوځ یو بریدمل چې تر دریو کالو زیاته کاري تجربه لري د میاشتې یې ۲۱۵ امریکایي ډالر تر لاسه کول او یو د لوړ مهارت بریدمل چې ۲۴ کاله تجربه لري، په میاشتنۍ ډول ۴۱۵ امریکایي ډالر ورکول کېدل. خو که د افغان پوځ یو سرتېری د خپل قرارداد په لومړیو دوو یا دریو کلونو کې یو ماهر لوژستیک پوه یا میخانیک شي، د راپورونو له مخې، هغه په یوه ملکي اداره کې له ۲۰۰ تر ۷۰۰ ډالرو پورې میاشتنۍ تنخا تر لاسه کولای شي. په ډیپو (۰) کې امریکایي روزونکو د افغان پوځ ۵۰ سرتېرو ته د کمپیوټر په برخه کې روزنې ورکړې. کله چې له افغان پوځ سره د هغوی قراردادونه پوره شول، له دې ۴۷ کسانو له پوځ سره دندې پرېښودې او په ملکي برخه کې د لوړو معاشونو ورکوونکو دندو ته ولاړل.[۱۵۷]

۱نقشه : په ۲۰۱۳ کال کې د افغان ملي پوځ لوژستیکي مرکزونه




سرچینه: په افغانستان کې د امنیت او ثبات په برخه کې د پرمختګ په اړه رپوټ، واشنګټن، د ۲۰۱۳ کال جولای.

۱۵۵ Richter, p. ۲۱.

۱۵۶ Richter, pp. ۲۱-۲۲.

۱۵۷ SIGAR, p. ۱۱۶.

تر ۲۰۰۷ پورې د افغان پوځ قطعاتو د ۲۴ ساعته عملیاتو په ګډون آن د لنډمهالو ماموریتونو لپاره هم پر خپل لوژستیک باور او تکیه نه شوه کولای.[۱۵۸] تر ۲۰۱۰-۲۰۱۱ کال پورې په دې چاره کې ډېر پرمختګ نه و شوی: د اکمالاتو غوښتنې کم وختونه بریالۍ کېدې، اصول داسې وو، چې مشاورینو به له خپلو اکمالاتي لارو په دې اړه غوښتنې کولې. ځینو افغانانو په دې اړتیا ټینګار وکړ چې داسې یو لوژستیکي سېستم رامنځته شي، چې افغانستان ته د تطبیق وړ وي او په دې برخه کې په چټکو هوایي اکمالاتو تکیه و نه شي.[۱۵۹] همداراز، د لوژستیک په برخه کې د روزنې/مشورو لومړنۍ هڅې اغېزناکې نه وې، چې ستر لامل یې د یوه ټولیز پلان نه درلودل وو.[۱۶۰] په ۲۰۱۰ کال کې له ورو پیله وروسته د جګړه ییزو خدماتو د ملاتړ ښوونځی لا هم ډېرو مخکښو افسرانو ته معلوم نه و او هغو ته چې معلوم و هلته یې د خپلو افسرانو له لېږلو ډډه کاوه.[۱۶۱]

د مرکو په ترڅ کې ځینو پوښتل شویو کسانو ادعا وکړه،چې د مناسب لوژستیکي ملاتړ په وړاندې کولو کې د پاتې راتللو یو لامل درغلي او اداري فساد دی.[۱۶۲] ټولو پوښتل شویو کسانو په دې هوکړه نه کوله چې اداري فساد په افغان پوځ کې یوه ستونزه ده، په ځانګړي ډول هغه کسان چې په قطعاتو کې دنده تر سره کوي ( ځینو د لوژستیک او تدارکاتو په لوړپوړو ادارو کې د ستونزو شته والی مانه). دا چې د دغو مرکو پر مهال له ۸۰ نه تر ۹۰ سلنې لوژستیکي توکي د ایساف له خوا انتقالېدل، دې ټکي ته په کتو ښایي داسې وي، چې د قطعاتو افسران له دې دغې ستونزې آن خبر هم نه وو.[۱۶۳]

## ۵.۲ لرلیدونه

یوه مشاور چې د افغان پوځ په لوژستیکي برخه کې یې همکاري کوله یو څه متناقصه هیله څرګنده کړه چې د لوېدیځ له وتلو وروسته به دا سېستم بېرته پخوانۍ کاربڼې ته وروګرځي.[۱۶۴] خو آن دا کار به هم وخت ونیسي او عیارونو ته به اړتیا ولري، هغه هم په داسې یوه وخت کې چې د افغان ملي پوځ لپاره ډېر مهم دی.

هغه ستراتیژیکې پرېکړې چې په ۲۰۱۲-۲۰۱۳ کلونو کې ورباندې خبرې اترې کېدې د افغان پوځ د پایښت لپاره اغېزناکې زباتېدای شوې. د راپورونو له مخې د افغان پوځ په لرې پرتو سیمو کې د ګومارلو اصلي پرېکړه د دفاع وزیر رحیم وردک له خوا ښایي له دې کبله شوې وه، چې ده غوښتل د هغو خلکو په مقابل کې د یوه لوی پوځ د جوړولو لپاره استدلال وکړي، چې د پولیسو د یوه لوی ځواک د جوړولو په ملاتړ یې استدلال کاوه.[۱۶۵] خو تر ۲۰۱۲ کاله دا بحث بدل شوی و او هڅه وشوه، چې افغان پوځ له لرې پرتو ولسوالیو رالرې کړي او د ښارونو او لویو لارو ( ,, مهمې سیمې,, ) شاوخوا یې د دفاع د یوې پایښت لرونکې لیکې په توګه وګوماري. ایساف د دغې بیاګومارنې ملاتړ وکړ.[۱۶۶]

د ایساف یوې سرچینې وویل، چې د افغان پوځ مسوولیت دا دی چې له هغو سرچینو سره سم خپلې ګومارنې پلان کړي، چې په اغېزناک ډول د دوی په واک کې دي. د هغو پوستو لپاره به تل یو حد موجود وي چې ملاتړ یې کېدای شي.[۱۶۷] د هېواد لرې پرتې سیمې تر ټولو ستره ننګونه راولاړوي. دا یوه داسې ستونزه ده، چې افغان پوځ به یې په یوازې تن د اوارولو وړتیا و نه لري.[۱۶۸] دغو لرو پرتو پوستو ته د اکمالاتو رسول له هغو نه د هوایي ملاتړ لا پراخو وړتیاوو ته اړتیا لري چې د پلان له مخې به یې افغان پوځ ولري.[۱۶۹] خو د افغانستان د دفاع وزارت خوښه دا ده، چې هغه ټول دفاعي محور پر ځای وساتي، چې په دغه هېواد کې د ایساف د لاسرسي په اوج کې رامنځته شوی دی.[۱۷۰]

---

۱۵۸ “Interview with Maj. William Woodring,” Operational Leadership Experiences interview collection archives, Fort Leavenworth : Combat Studies Institute, ۱۲ December ۲۰۰۶, pp. ۸–۹.

۱۵۹ Jacobson, ibid.; SIGAR, p. ۲۵;Boone,ibid.; Tom A. Peter, “’Afghan Army›s next hurdle: logistics, “Christian Science Monitor, ۳ October ۲۰۱۱.

۱۶۰ SIGAR, pp. ۱۲, ۱۳۲

۱۶۱ SIGAR, pp. ۵۱–۲, ۶۳; “Securing the Future of Afghanistan”, p. ۳.

۱۶۲ Interview with ANA officer in Nangarhar province, April ۲۰۱۳.

۱۶۳ Interview with ANA corporal in Qalat, April ۲۰۱۳; interview with ANA Lt Colonel serving in Kandahar, April ۲۰۱۳; interview with ANA Lt. Colonel serving in Kandahar, April ۲۰۱۳; interview with ANA officer serving in Kandahar, April ۲۰۱۳; interview with ANA officer serving in Qalat, April ۲۰۱۳; interview with Lt. Colonel in Arghandab, April ۲۰۱۳; interview with ANA officer serving in Maywand, April ۲۰۱۳; interview with ANA soldier in Zari, April ۲۰۱۳.

۱۶۴ Valeski, ibid.

۱۶۵ Rajiv Chandrasekaran, ‘Afghan security force’s rapid expansion comes at a cost as readiness lags’, Washington Post, ۲۱ October ۲۰۱۲.

۱۶۶ Ibid. .

۱۶۷ Interview with Brig. Gen. Howard, IJC, September ۲۰۱۳.

۱۶۸ Interview with ANA Lt. colonel, Kandahar, April ۲۰۱۳; Interview with ANA officer, Qalat, April ۲۰۱۳.

۱۶۹ Interview with ANA officer, Khost, April ۲۰۱۳; “Afghanistan military forces fighting in mountainous border still face aggressive fight, “Associated Press, ۴ July ۲۰۱۳; Luke Mogelson, “Which way did the Taliban go?”New York Times, ۱۷ January ۲۰۱۳.

۱۷۰ Kevin Sieff, “Afghan army ambitions meet limits in violent Pech Valley,” Washington Post, ۹ January ۲۰۱۳.

د آیساف لپاره د اندېښنې خبره دا وه، چې په ۲۰۱۲ کال کې د دفاع وزیر محمدي غرني نورستان ولایت ته د ځواکونو په ورلېږلو غور وکړ. په دغه سیمه کې تر ۲۰۱۳ کال پورې د افغان پوځ دایمي قطعات نه وو او یوازې د پولیسو یو څو ځانله پراته مرکزونه پکې موجود وو. نوموړي په ۲۰۱۳ کال کې کوچني قطعات وګومارل.[171] لوی درستیز کریمي د آیساف مشوره ومنله او دا منښته یې وکړه چې دی ,, د هېواد هر اینچ خاوره تر پوښښ لاندې نشي راوستی. افغان پوځ دومره لوی نه دی.,, د نوموړي استنباط دا و چې افغان پوځ ښایي دې ته اړ وي، چې ځینې لرې پرتې سیمې وسله والو ته پرېږدي. خو د راپورونو له مخې نوموړي وروسته د دې خبرې پلوي وکړه چې د کندهار په ځینو لرو پرتو ولسوالیو کې افغان پوځ وساتل شي.[172] په ۲۰۱۳ کال کې د نورستان په برګ متال او کامدېش کې د افغان پوځ د ګومارلو تجربې ښایي د دفاع وزارت هغو ستونزو ته متوجه کړی وي، چې د خپل لوژستیک پر مټ د دا ډول ګومارنو په ملاتړ کې پېښېږي.[173]



یو افغان پیلوټ په یوې زړې چورلکې کې د الوتنې پر مهال

په ۲۰۱۳ کال کې ایساف او په افغانستان کې د ناټو روزنیز ماموریت په جدي ډول پر لوژستیک باندې تمرکز کول پیل کړل او هڅه یې وکړه چې د افغان پوځ د لوړپوړو جنرالانو پام دې ځانګې ته راواړوي. د مهالوېش له مخې ټاکل شوې وه، چې د ۲۸ لوژستیکي مرکزونو له ډلې ۱۹ په ۲۰۱۳ کال کې افغانانو ته وسپارل شي،[174] خو کله چې وخت راورسېد، په دې اړه کابو ټولیزه هوکړه وشوه، چې افغان پوځ لا هم د لوژستیک له پلوه پر ایساف ډېر زیات متکي و.[175] د ۲۰۱۳ کال تر اوړي پورې په افغانستان کې د ناټو روزنیز ماموریت او آیساف لا هم ډېری قراردادونه لیکل او د دفاع وزارت لپاره یې سرچینې لېږدولې. نو آن په ډېر مثبت او ښه نظر هم د افغان پوځ لوژستیکي ځانګه له ۲۰۱۵ کاله مخکې نشي چمتو کېدای.[176] لکه څنګه چې په افغانستان کې د ناټو د روزنیز ماموریت یوې لوړپوړې سرچینې د ۲۰۱۳ کال په پسرلي کې څرګنده کړه "لوژستیک یو ناسور ټپ دی".[177] یوې سرچینې د پېژند مدیریت او

---

۱۷۱ Interview with Maj. Gen. McLachan, IJC, September ۲۰۱۳;Sieff, ibid.

۱۷۲ Kevin Sieff, ‘Afghan army struggles with lack of reach’, The Washington Post, ۱۱ July ۲۰۱۳; personal communication with ICG analyst Graeme Smith, Kabul, October ۲۰۱۳.

۱۷۳ Interview with Brig. Gen. Howard, IJC, September ۲۰۱۳.

۱۷۴ “Report on Progress Toward Security and Stability in Afghanistan,” ibid.

۱۷۵ Interview with ANA Colonel, MoD, April ۲۰۱۳; interview with ANA officer in Nangarhar province, April ۲۰۱۳; interview with ANA officer in Wardak Province, April ۲۰۱۳; interview with ANA colonel in Paktya province, April ۲۰۱۳; interview with ANA colonel in Baghlan, April ۲۰۱۳; interview with ANA officer in Khost province, April ۲۰۱۳; interview with ANA officer in Baghlan province, April ۲۰۱۳; interview with ANA officer in Baraki Barak (Logar), April ۲۰۱۳; interview with ANA officer in Khost province, April ۲۰۱۳.

۱۷۶ Interview with Mr. Johns(US DoD), NTM-A, ۱۲ September ۲۰۱۳.

۱۷۷ Interview with senior NTM-A officers, April ۲۰۱۳.

لوژستیک د هغه جوړښت له مخې چې دا څانګې پرې پر مخ ولاړې شي په داسې ټکو تشریح کړل چې په وینا یې "په لنډ ډول هېڅ وجود نه لري". "دا یوه دوامداره شخړه ده چې دا معلومه شي چې د خپلو ځواکونو د مړولو لپاره د خوړو د لګښت ورکولو مسوولیت د چا په غاړه دی".[۱۷۸] د ترانسپورت د وسایلو پر محدود شتوالي سربېره د افغان پوځ د لوژستیکي برخې ریښتینې ستونزه په کابل کې د بې کفایته او غیر حساسې ادارې شتون دی.[۱۷۹]

په ایساف کې انګېرنه دا ده، چې افغان پوځ ښایي له اوسني ګواښ سره د مخامختیا لپاره د لوژستیک په برخه کې ډېر څه ته اړتیا و نه لري: د دې پوځ موخه له داسې وسله والو سره جګړه ده، چې پخپله هم په ځانګړي ډول له پاکستاني سرحده لرې محدود اکمالات لري. تر هغې پورې چې د افغان پوځ اکمالات تر وسله والو ډېر وي، د جګړې په ډګر کې باید خپله برلاسي وساتي. وسله وال په کمساري ډول له ۲۴ ساعتو زیاتې جګړې لپاره د مهماتو اکمالات لري، چې دا چاره له یوه مقاومت لرونکي دښمن سره د یوې پرېکندې مخامختیا لپاره کافي نه ده.[۱۸۰] دا خبره د وسله والو مخالفینو د یوه همغږي، دوامدار چپاو په نشتون کې صدق کوي، خو د دې خبرې هېڅ ضمانت نشته، چې له دغه هېواده د ایساف له وتلو وروسته به مخالفین خپل بریدونه نور هم زیات نه کړي او نوي ظرفیتونه به و نه کاروي.

د ۲۰۱۳ کال په جون کې ایساف د افغان پوځ د لوژستیکي برخې د پرمختیا لپاره یوه نوي تګلاره خپله کړه. نړیوالو ځواکونو د مشاورینو یوه ډله جوړه کړه چې دنده یې د افغان پوځ له مشرتابه سره د لوژستیک د پرمختګ لپاره د خپلو بهیرونو په رامنځته کولو کې مرسته کول وو. دې کار د هغو شاملو بهیرونو متقابلو اړیکو او یو ځایوالي ته نوی پام جذب کړ. خو په تېر کې دا مسلې د یوه جلا توکي په توګه په روزنه کې پر مخ بیوړل کېدې.[۱۸۱] دې هڅې اغېز درلود، ځکه افغان چارواکي اوس په بشپړه توګه په دې خبر دي، چې د ایساف وتل او له افغان پوځ سره یې د روانو چارو پای ته رسېدل تشې خبرې نه دي. د دې په پایله کې د دې لپاره هڅې پیل شوې، چې خنډونه له منځه یوړل شي او د اکمالاتو د جواز لپاره د اړتیاوړ لاسلیکونو شمېر را کم شي.[۱۸۲]

خو په ټوله کې تر ۲۰۱۳ کاله پورې د افغان پوځ د لوژستیک برخې لا هم په خاپوړو حرکت کاوه. دا چاره د افغانستان پېچلې جغرافیې او د اکمالاتو د لیکو زیانمننې نوره هم پسې سخته کړې ده. کمزوری لوژستیک په څرګند ډول د افغان پوځ په مهمو زیان مننو کې یوه وه.

---

۱۷۸. Interview with officer at Regional Combat Battle School, Shorabak, April ۲۰۱۳.

۱۷۹. Interview with ANA officer in Shwak (Paktya), April ۲۰۱۳.

۱۸۰. Interview with Maj. Gen. McLachan, IJC, September ۲۰۱۳; Interview with senior NTM-A officers, April ۲۰۱۳.

۱۸۱. Interview with Mr. Johns (DoD), NTM-A, September ۲۰۱۳.

۱۸۲. Interview with senior IJC officer, Kabul airport, September ۲۰۱۳; Interview with Mr. Johns (DoD), NTM-A, September ۲۰۱۳.

# ۲. د سیاسي مداخلې کچه او ویجاړوونکې پایلې یې

## ۲.۱ د وړتیا پر بنسټ ګومارنې (یا یې کموالی)

### ۲.۱.۱ ترفېعات

د ملي دفاع وزارت له خوا د لایقو او وړتیا لرونکو منصوبینو ته په ترفیع ورکولو پاتې راتلل شکایتونه عامه خبره ده.[۱۸۳] هغه افسران چې په ۱۹۸۰ یمو کلونو کې یې دندې تر سره کړې، ډېری وختونه په دې اړه شکایت کوي، چې له ۲۰۰۱ کال وروسته پړاو کې په افغان پوځ کې له شاملېدو وروسته دوی ته ترفیعات نه ورکول کېږي. په دوی کې ډېر له هغو رتبو په ټيټو کار کوي چې په ۱۹۸۰ یمو کلونو کې یې لرلې، سره له دې چې دوی له هغو کسانو ډېر لیاقت لري، چې د ترفیعاتو او پرمختګ له پلوه تر دوی مخکې دي.[۱۸۴] د ګومارنو او ترفېعاتو په برخه کې د څرګندو اصولو د نشتوالي له کبله د خپلوان پالنې خپرېدو ته زمینه برابره کړې ده. په ۲۰۰۸ کال کې د افغانستان پارلمان هڅه وکړه، چې دغې مسلې ته د افغان پوځ د پرسونل په اړه د یوه نوي قانون په جوړولو حل لارې ولټوي (د افسرانو او بریدملانو ذاتي قانون، د افغان پوځ د پرسونل، بریدملانو او افسرانو قانون). په دغه قانون کې پر نورو شیانو سربېره دا توکي ذکر شوي دي:

- د جلب و جذب اصول او چلند لارې
- ډیسیپلین او د مجازاتو میکانیزم
- د رتبو تعیین
- د تبدلیو اړوند اصول

د قانون مسودې د رتبو د ورکولو لپاره معیارونه وټاکل. په دې کې په ځانګړي ډول د بریدمن رتبې د ورکړې په اړه ویل شوي، چې یوازې هغه کسان یې تر لاسه کولای شي، چې د لیسانس یا لېسې تر کچې زده کړې ولري او د افسرانو له روزنیز کورسه فارغ وي. دغه قانون تر اوسه پورې تصوییب شوی نه دی، او خپلسري ګومارنې لا هم روانې پاتې دي، که څه هم ډېری وختونه دا کارونه د پارلمان د غړو تر فشار لاندې تر سره کېږي. یوه جنرال په یوې بېلګه وړاندې کړه، چې په یوه مخکښ سیاسي شخصیت پورې تړلی دی او په پوځي اکاډمۍ کې یې له یوازې دوو اونیو تېرولو وروسته د ډګروالۍ رتبه تر لاسه کړه.[۱۸۵]

آن کله چې د یوې مسلکي سابقې خلک پر دندو ګومارل شوي، دوی هم له یوه سره تر ټولو لایق نه دي زبات شوي، د چټکو ترفېعاتو د قضیو په اړه ډېری وختونه راپورونه ورکړل شوي دي.[۱۸۶] که څه هم د افغان پوځ له داخله تر لاسه شوې نیوکې په دې دلیل رد کېدای شي، چې دا ښایي د هغو خلکو شکایتونه وي، چې په ترفېعاتو کې له پامه غورځول شوي، خو بهرنیو مشاورینو او روزونکو هم ورته نظرونه څرګند کړي دي.[۱۸۷]

په دې برخه کې پرمختګ شوی، خو کرار دی. د امریکا او ناټو په مشرۍ روزنیزو ماموریتونو بالاخره داسې کورسونه پیل کړي، چې موخه یې په ځانګړي ډول د افسرانو روزنه ده. د ۲۰۱۳ کال تر پسرلي پورې د ځوانو افسرانو ښوونځي (OCS) د افغان پوځ د افسرانو اکاډمۍ له پیله دمخه خپل وروستی کورس بشپړ کړی و. په دغه اکاډمۍ کې د جلب و جذب ظرفیت هم ډېر شوی [ تر ۲۰۰ کسانو پورې] او د کورس اوږدوالی هم.[۱۸۸] په ۲۰۱۳ کال کې د دفاع وزیر محمدي د کنډکونو له قوماندانانو نیولې پورته خوا ته تر ۵۰۰ زیاتو افسرانو د ارزولو لپاره یو ارزوونکی کمېسیون جوړ کړ. دغه کمېسون په دوی کې ۳۰ تنه د کمزوري فعالیت د لرونکو په توګه په ګوته کړل، خو په دوی کې یوازې ۱۰ تنه په نورو دندو وګومارل شول.[۱۸۹]

---

۱۸۳ Interview with ANA General, MoD, April ۲۰۱۳; Interview with ANA officer in Nangarhar province, April ۲۰۱۳.

۱۸۴ Interview with ANA general, MoD planning, April ۲۰۱۳.

۱۸۵ Interview with retired ANA general, Kabul, April ۲۰۱۲.

۱۸۶ Interview with ANA general, MoD planning, April ۲۰۱۳.

۱۸۷ Interview with adviser at Regional Combat Battle School (RCBS), Shorabak, April ۲۰۱۳.

۱۸۸ Interview with KMTC Brig. Gen. Aminullah and Advisory team, April ۲۰۱۳.

۱۸۹ Senate Armed Services Committee, “Written Posture Statement Of General Joseph F. Dunford Commander Us Forces-Afghanistan Before The Senate Armed Services Committee On The Situation In Afghanistan”, April ۱۶, ۲۰۱۳; ‘Report on Progress Toward Security and Stability in Afghanistan’, ibid, p. ۷۱.

په ټوله کې، د ورتیاوو پر بنسټ د یوه سېستم د رامنځته کولو لپاره د ارادې دا ډول سپګنالونه کمزوري پاتې شوي دي. دا چاره د ولسمشریزو ټاکنو په رارسېدو او په دې پورې د سیاسي سوداګانو په تړاو نوره هم روښانه شوې. د دې کار په اوږدو کې ولسمشر کرزی سیاسي فشار ته تسلیم شو او په دفاع وزارت کې یې د جنرالی تر رتبې یو شمېر نوي ترفیعات لاسلیک کړل. هغه ۴۲ جنرالان چې له دې لارې وګومارل شول، یوازې ۱۰ تنه یې مسلکي پوځیان وو او ګڼ شمېر پکې آن له لېسو هم نه وو فارغ شوي. په دوی کې ۲۲ ګومارل شوي کسان د راپورونو له مخې په جمعیت اسلامي ګوند او دفاع وزیر پورې تړلي وو او ۱۲ نور یې په حزب اسلامي پورې تړلي کسان وو. یوازې څلور تنه پکې داسې وو چې په کومې ډلې پورې یې معلوم تړاو نه درلود. د دغو نویو جنرالانو په منځ کې فدا پنجشېری د لوژستیک مشرتابه ته وګومارل شو، چې د ضیا علیزي په نامه د یوه داسې کس ځای ناستی شو، چې په یوې پوځي اکاډمۍ کې یې زده کړې کړې وې.[۱۹۰]

## ۲.۱.۲ خپلوانپالنه

د راپورونو له مخې د ملي دفاع پخواني وزیر رحیم وردک پخپله شکایت کاوه، چې له ده څخه په ورځني ډول غوښتنې کېدې، چې یو شمېر کسان له ځواکمنو خلکو سره د اړیکې لری باید په دندو وګوماري او یا هم ترفیعات ورکړي.[۱۹۱] د راپورونو له مخې، په ۲۰۱۳ کال کې پېژنوال، جنرال رحیمي هم د بېلابېلو سرچینو له خوا تر سختو فشارونو لاندې و، چې د ګومارنو پر مهال د وړتیا معیارونه په پام کې و نه نیسي.[۱۹۲] یوه بل جنرال څرګنده کړه، چې لوی درستیز جنرال کریمي هم د قدرت لرونکو کسانو تر فشار لاندې و، چې د هغوی پلویان پر څوکیو وګوماري.[۱۹۳] د خپلوانپالنې فشارونه او د دفاع وزارت د مشرتابه له خوا پخپله د خپلو دوستانو راوستل د دا ډول ګومارنو لامل شوی دی. د دفاع وزارت یوه جنرال آن ادعا وکړه، چې د بستونو او څوکیو پلورل کېدل، د کورنیو چارو وزارت په څېر په دفاع وزارت کې عام نه دي، داسې یوه چاره نه ده، چې په دفاع وزارت کې چا نه وي اورېدلې.[۱۹۴]

> ما پخپله په وزارت کې ډېر داسې خلک لیدلي، چې د اړوندې څوکۍ او رتبې وړتیا نه لري، خو دا چې د وزارت له لوړپوړو چارواکو سره اړیکې لري، دوی ارتقا کړې ده. زه تاسې ته ویلای شم، چې په دفاع وزارت کې شاوخوا ۴۰ سلنه افسران د اړیکو او ملګرتیا له لارې ګومارل کېږي.[۱۹۵]

پلوي، خپلوانپالنه او دا واقعیت چې په دفاع وزارت او افغان پوځ کې ټولې څوکۍ د خلکو د منصوبینو د خوښې وړ نه دي (په ځانګړې ډول ډېرې خطرناکې څوکۍ) د دې لامل شوې چې ترفیعات زیات شي، خو البته دا چارې د ۲۰۰۲-۲۰۰۴ کال تر کچې نه دي. هغه وخت دفاع وزارت له جنرالانو او ډګروالانو ډک و. په ۲۰۱۲ کال کې د راپورونو له مخې، په دفاع وزارت/افغان پوځ کې ۱۴۰۰ اضافه بست ډګروالان موجود وو، چې په تشکیل کې یې څوکۍ نه لرلې.[۱۹۶] د راپورونو له مخې، په زیات شمېر کې اضافه بست جنرالان هم په دغه وزارت کې موجود دي.[۱۹۷] د دفاع وزارت یوې لوړپوړې سرچینې ادعا وکړه، چې د ۲۰۱۳ کال تر اکتوبره د دا ډول افسرانو شمېر تر ۲۰۰۰ زیات و.[۱۹۸]

په ۲۰۱۲ کال کې د افغانستان د ملي امنیت ادارې پخواني مشر امرالله صالح اټکل کاوه، چې د افغان امنیتي ځواکونو تر ۹۰ سلنې زیات لوړپوړي چارواکي پر سیاسي یا د پلوۍ او خپلوانپالنې پر بنسټونو ګومارل شوي دي:

> د افغان ځواکونو لوړې او منځنۍ څوکۍ په هغو خلکو ډکې شوې، چې په یوه ډموکراتیک سېستم کې یې ارتقا نه ده کړې. دوی د وړتیاو له مخې نه دي ګومارل شوي. په دوی کې ډېری کسان د سیاسي مصلحتونو او شخصي اړیکو له مخې مقرر شوي دي. دا چاره د بېلابېلو پوړونو افسرانو پر وفادارۍ او هڅونې مخامخ اغېز کوي. (...) د امنیتي ځواکونو په مدیریت کې مداخله، که په لوړه یا ټیټه کچه وي، د هغوی وده ورو کوي، لګښتونه یې زیاتوي او مورال ته یې شدیده ضربه رسوي. پر لوړو او منځنیو څوکیو باندې د خپلوان پالنې پر بنسټ د افسرانو ګومارل ښایي د کوچنۍ کچې ګټې ولري، خو ملي ګټې نه لري.[۱۹۹]

مشاورین هم د خپلوانپالنې چارې شته والی تاییدوي. دوی وايي، ځینې افسران د قول اردو ګانو قرارګاګانو ته د دفاع وزارت د لوړپوړو چارواکو له لیکونو سره راځي.[۲۰۰]

---

۱۹۰. ISAF and diplomatic sources, contacted in Kabul, October ۲۰۱۳; interview with Afghan MoD General, Kabul, October ۲۰۱۳.

۱۹۱. Personal communication with foreign diplomat, Kabul, ۲۰۱۱.

۱۹۲. Interview with Afghan MoD general, Kabul, October ۲۰۱۳.

۱۹۳. Interview with retired ANA general, Kabul, April ۲۰۱۲.

۱۹۴. Interview with ANA general, MoD planning, April ۲۰۱۳; interview with ANA general, MoD, April ۲۰۱۳.

۱۹۵. Interview with MoD captain, MoD, April ۲۰۱۳.

۱۹۶. Personal communication with former ISAF senior officer, ۲۰۱۲.

۱۹۷. Interview with retired ANA general, Kabul, April ۲۰۱۲; Interview with ANA officer in Baghlan province, April ۲۰۱۳.

۱۹۸. Interview with Afghan MoD general, Kabul, October ۲۰۱۳.

۱۹۹. Amrullah Saleh, “Ending the politicisation of Afghan security forces, “Aljazeera, ۱۹ April ۲۰۱۲. See also James Fergusson, A Million Bullets, (London : Bantam, ۲۰۰۸), p. ۸۱.

۲۰۰. Interview with ISAF mentor, northern Afghanistan, July ۲۰۱۲.

### ۲.۱.۳ د افغان پوځ پر وړتیاوو اغېز

خپلوانپالنه یوازې په افغان پوځ کې نه ده. د یوه برتانوي مشاور په وینا:

> زموږ او افغانانو تر منځ یوازنی توپیر دا دی، چې د دوی خپلوان پالنه غیر منطقي ده، خو زموږ دا منطقي او پرمختللې ده، چې له مخې یې موږ د مشر د ارادې پیروي د خپلو کارې پایلو لپاره کوو، نه دا چې هغه څه وکړو چې زموږ د معلوماتو له مخې سم وي.[۲۰۱]

که څه هم خپلوان پالنه او پلوي ښايي تر یوې کچې یو تولیز چلند وي، خو دا هم ریښتیا ده چې خپلوانپالنه بېلابېلې بڼې خپلوي. له عملي پلوه، مسله دا ده چې ایا هغه خپلوان پالنه چې په یوه اداره کې پر مخ بیول کېږي د ناسم چلند د منځته راتګ لامل کېږي که نه. په ګومارنو کې خپلوان پالنه او اداري فساد د دې لامل شوی چې (د افغانستان د دفاع وزارت د یوه جنرال په خبره) ډېر افسران د دې وړتیا نه لري، چې پېچلې دندې تر سره کړي.[۲۰۲] بل اغېز یې بې ځایه لګښت دی، ځکه چې بې کاره افسران د افغان پوځ معاشونه بې دلیله تر لاسه کوي:

> په دوی کې ډېری د جنګېدو وړتیا نه لري. دوی ډېر کمزوري دي او دې ته خوشاله وي چې یوه ښه دنده او درې څلور ساتونکي ولري، خو د افغانستان او روانې جګړې په اړه هېڅکله فکر نه کوي. زه د وزارت په مشرتابه کې ډېر داسې خلک پېژنم چې له وزارته یې خپلو ښځو، زامنو او لوڼو ته موټرې اخیستې، خو داسې جنرالان هم شته چې له خپلې دندې کور او بېرته کار ته پلې ځي راځي. ما تاسې ته وویل، دا چې موږ یو ښه پوځ نه لرو، دلیل یې په وزارت کې د عدالت نشتوالی او اداري فساد دی.[۲۰۳]

د اوسطو جذب شویو کسانو د زده کړو ټیټې کچې دا ستونزه نوره هم پسې سخته کړې ده: په کمزورو افسرانو د پرسونل په منځ کې له دې کبله حساب نشي کېدای، ځکه چې دوی آن له لومړنیو پوځي مهارتونو هم بې برخې دي.[۲۰۴]

اداري فساد د خپلوان پالنې یو فرعي تولید دی. په دې برخه کې د بدنامترینو قضیو په ډله کې د کابل د پوځي روغتون قضیه ده، چې جراح جنرال احمد ضیا یفتلي یې په ۲۰۱۰ کال کې په تور بازار کې د ۴۲ میلیونو ډالرو په ارزښت د درملو په پلورلو او د ټپي پوځیانو په اړه په پراخې بې غورۍ تورن شو. یفتلي تر هغې پورې د دفاع وزیر له خوا وژغورل شو، چې د ۲۰۱۰ کال په دسمبر کې په دې مسله کې ایساف مداخله وکړه او هغه یې له خپلې دندې لرې کړ.[۲۰۵] خپلوان پالنه او اداري فساد د افغان پوځ پر مورال ناوړه اغېز کوي. باور کېږي، چې په سیاسي پلویانو باندې د دندو په سپارلو کې هم پام کېږي او له خطرناکو دندو ژغورل کېږي. د بېلګې په توګه، د روزونکو استادانو څوکۍ (چې یوه ارامه دنده ده) ډېری وختونه د هغو تجربه لرونکو ټیټې شویو افسرانو پر ځای چې نور نشي کولای په قطعاتو کې دندې تر سره کړي، د واسطو له لارې بې تجربې کارکوونکو ته وېشلې کېږي.[۲۰۶]

## ۲.۲ قومي ستونزې

په دې وروستیو کلونو کې د چارواکو په منځ کې د افغان پوځ به لیکو کې د قوم او توکمپالنې ستونزې د موجودیت منښتې ته زیات میلان ښوول شوی دی، لکه د امریکا د لویو درستیزانو د کمېټې مشر مولېن چې په خپلو څرګندونو کې وویل، چې د تاجکو او پښتنو تر منځ رقابت دا وړتیا لري، چې دا هېواد رنګ کړي.[۲۰۷] همدا راز په افغانستان کې د ناټو ماموریت مشر کالډویل دا ستونزه په ګوته کړې، چې په افغان پوځ کې د تاجکو زیات شتون یوه ستونزه ده.[۲۰۸] تر دې وړاندې، افغان پوځ په جلب و جذب او ګومارنو کې قومي سهم ټاکلی و.[۲۰۹] په ۲۰۰۲ کال کې په دفاع وزارت کې د تاجکانو له حده د زیات شتون په اړه بحثونه د دې لامل شول، چې په افغانستان کې د امنیتي لېږد ګډې قوماندانۍ پرېکړه وکړه، چې د سترو قومي ډلو برخې باید د افغان پوځ په ټولو څانګو کې

---

۲۰۱. Interview with ISAF adviser, April ۲۰۱۳.

۲۰۲. Interview with ANA colonel, MoD, April ۲۰۱۳.

۲۰۳. Interview with ANA general, MoD planning, April ۲۰۱۳.

۲۰۴. Charlie D›Agata, "Afghan soldiers› incompetence raises concerns about U.S. withdrawal plans," CBS News, ۱۶ May ۲۰۱۳.

۲۰۵. "Afghan ex-army health chief dismisses allegations of embezzlement," Text of report by state-owned National Afghanistan TV on ۲۵ December ۲۰۱۰;Maria Abi-Habib, "At Afghan Military Hospital, Graft and Deadly Neglect", Wall Street Journal, ۳ September ۲۰۱۱.

۲۰۶. Interview with ANA officer in Nangarhar province, April ۲۰۱۳; interview with Afghan MoD general, Kabul, October ۲۰۱۳; interview with ISAF advisor to Afghan brigade, April ۲۰۱۳.

۲۰۷. International Crisis Group, "A Force in Fragments: Reconstituting the Afghan National Army," Asia Report ۱۹۰, ۱۲ May ۲۰۱۰.

۲۰۸. Glenn Kessler, "Pay increase for Afghan troops boosts interest, "Washington Post, ۱۰ December ۲۰۰۹.

۲۰۹. Interview with ANA General, Kabul, ۱۲ October ۲۰۰۵.

منعکسې شي.[۲۱۰] د دې چارې لپاره د تعیناتو یو ځانګړی بورډ جوړ شو، چې مشري یې د دفاع وزیر او لوی درستیز کوله. د راپورونو له مخې د دغه بورډ نورو غړو کم واک درلود او یادو شویو دوو مشرانو ټولې ګومارنې وېشلې.[۲۱۱] د قومي سهمیې سېستم له پورته نیولې تر ښکته، په ټولو پوړونو کې پلی کېده. آن ټاکل شوې وه، چې د پوځ د تکتیکي قطعاتو اړوند خصوصي سرتېري هم د قومي سهمیې پر بنسټ وګومارل شي. ګومارنې دندو ته له دریوو شارټ لېست شویو کسانو کېدې، چې هر یو به یې په بېل توکم یا قوم پورې تړلی و. اصل دا ټاکل شوی و، چې ورتیا او قوم دواړه باید په پام کې ونیول شي.[۲۱۲]

د سهمیو موخه دا وه، چې د افغان پوځ په لیکو کې د قومي غوره والي په اړه سیاسي اندېښنې له منځه ولاړې شي، خو دې چارې د ملاتړ پر بنسټ ګومارنې هم مشروع وګرځولې. په دفاع وزارت او ملي پوځ کې د قومي انډول تګلاره یوازې د پوره ورتیا سېستم ته په یو څه زیان پلې کېدای شي (چې هغه هم ښایي د دغه «مثبت ګام» په نشتون کې هم ښایي پلی شوی نه وای). د هر جزوتام د مشرتابه افسرانو هم باید په بېلابېلو قومونو پورې تړاو درلودای. "که د یوې قطعې قوماندان تاجک وي، مرستیال به یې پښتون وي، یا که قوماندان هزاره وي، مرستیال به یې ازبک وي".[۲۱۳]



د افغان ملي پوځ سرتېري د کابل په پوځي مرکز کې د فراغت د مراسمو پر مهال لوړه کو

د قومي سهمیې سېستم د دفاع وزارت/افغان پوځ د لوړپوړو څوکیو د وېش په جوړښت کې پرمختګ راوست. د قطعاتو په مشرتابه کې د قومي جوړښت مدیریت په پرتلیز ډول اسان و. په ۲۰۰۵ کال کې د هغه وخت په فعالو څلور قول اردو ګانو کې نهه لوړپوړي څوکۍ په دې ډول وېشل شوې وې: درې پښتانه (۳۳ سلنه)، درې تاجک (۳۳ سلنه)، ۲ ازبک (۲۲ سلنه) او یو هزاره (۱۱ سلنه).[۲۱۴] د دفاع وزارت په کچه، په ۲۰۱۱ کال کې پر ۲۲ لوړپوړو څوکیو ۱۱ پښتانه (۴۲ سلنه)، ۹ تاجک (۳۵ سلنه)، ۴ هزاره (۱۵سلنه)، ۱ نورستانی او ۱ ازبک (هر یو ۴ سلنه) ګومارل شوي وو.[۲۱۵]

۲۱۰ The quotas were ۴۴٪ Pashtun, ۲۵٪ Tajik, ۱۰٪ Hazara, ۸٪ Uzbek (ISAF source).
۲۱۱ Interview with ANA General, Kabul, ۱۲ October ۲۰۰۵.
۲۱۲ Interview with ISAF mentor, northern Afghanistan, July ۲۰۱۲.
۲۱۳ Mir Sediq Zaliq, “A military melting pot,” Afghanistan Today, ۱۸ October ۲۰۱۱.
۲۱۴ Interview with ANA general, Kabul, ۱۲ October ۲۰۰۵.
۲۱۵ NTM-A, “Ministry of Defense: a year in review ۲۰۱۱,” Kabul ۲۰۱۲.

خو بیا هم په افغان پوځ کې د قومي انډول په اړه اندېښنې له منځه نه دي تللې. په ۲۰۱۱ کال کې د دفاع وزارت یوه مرستیال په ځرګند ډول د قومي انډول په اړه خپلې اندېښنې ځرګندې کړې.[۲۱۶] د مرکو په ترڅ کې د پوښتل شویو کسانو تر منځ په افغان پوځ کې د قومي ستونزو د کچې او سرچینو په اړه نظریاتو یو تر بله ډېر توپیر درلود. ځینو استدلال کاوه، قومي ستونزې ډېرې عامې دي[۲۱۷] او نورو بیا ویل، چې دا ستونزې کمسارې او په کمېدو دي.[۲۱۸] د پوځ د منځنیو رتبو افسرانو، چې د دې څېړنې لپاره ورسره مرکې شوې، په پوځ کې د جدي قومي ستونزو شته والی نه مانه.[۲۱۹]

خو له بله پلوه، د دې پر خلاف یو څه شفاهي شواهد وړاندې کېږي. په دفاع وزارت کې یوې سرچینې ټینګار وکړ، چې دغه وزارت ته د قومي او مذهبي ستونزو پر سر د رامنځته شویو شخصي شخړو په اړه ډېرې وختونه راپورونه ورکول کېږي.[۲۲۰] یوه بل پوښتل شوي کس لا دا استدلال هم وکړ، چې افغان پوځ هغه مهال ښه فعالیت کوي، چې پښتانه او نور قومونه سره بېل وي.[۲۲۱] ځینو افسرانو ومنله چې دوی خپل سرتېري په زور سره ګډوي، که نه دوی غواړي چې قومي ډلې سره جوړې کړي.[۲۲۲] په ۲۰۰۷ کال کې بیشپ پر قومي بنسټونو د یوه بلوک د بېلېدو بېلګه ذکر کړې ده.[۲۲۳] د افغان پوځ یوه تورن وویل، د ده په باور ایساف د افغان پوځ په منځ کې د قومي شخړې مخه نیسي، پر دې باور چې د ایساف له وتلو وروسته دغه پوځ سره وېشل کېدای شي.[۲۲۴] مشاورینو په بېلابېلو قومونو پورې تړلو افسرانو تر منځ د فزیکي شخړې میلان په خپلو سترګو لیدلی دی.[۲۲۵]

۴ګراف: د توکم له مخې د افغان پوځ د ټولو رتبو لرونکي افسران (٪)




۵ګراف: د توکم له مخې د افغان پوځ ټول منصوبین (٪)




۲۱۶ NTM-A, "Ministry of Defense (MoD) and Afghan National Army (ANA) Weekly Assessment," Kabul, ۱۲ February ۲۰۱۳.

۲۱۷ Interview with ANA General, MoD Planning, April ۲۰۱۳; interview win ANA General, MoD, April ۲۰۱۳; interview ANA officer, Wardak, April ۲۰۱۳; interview with ANA officer, Wardak, April ۲۰۱۳; Interview with ANA colonel, Baghlan, April ۲۰۱۳; Interview with ANA officer in Khost province, April ۲۰۱۳; interview with ANA officer in Mohammad Agha District (Logar), April ۲۰۱۳.

۲۱۸ Interview with ANA officer, Moqur (Ghazni), April ۲۰۱۳; interview with ANA colonel, Daman, April ۲۰۱۳; interview with ANA soldier, Kandahar, April ۲۰۱۳; interview with ANA officer, Helmand, April ۲۰۱۳; Interview with ANA officer in Nangarhar province, April ۲۰۱۳; interview with ANA officer, Paktya, April ۲۰۱۳; Interview with ANA officer in Baghlan, April ۲۰۱۳; interview with ANA officer in Khost province, ۲۰۱۳; interview with ANA officer in Kama (Nangarhar province), April ۲۰۱۳.

۲۱۹ "Wrong information the basis of ethnic analysis," Hasht-e Sobh, ۲۱ April ۲۰۱۳.

۲۲۰ Interview with ANA captain, MoD, April ۲۰۱۳.

۲۲۱ Interview with ANA officer in Shwak (Paktya), April ۲۰۱۳; interview with ANA colonel, Baghlan province, April ۲۰۱۳.

۲۲۲ Anne Nivat, "Les Brouillards de la Guerre, (Paris :Fayard, ۲۰۱۱), p. ۶۲.

۲۲۳ Patrick Bishop, ۳ Para,(London : Harper, ۲۰۰۷),p. ۲۱۱.

۲۲۴ Interview with ANA Captain, MoD logistics, April ۲۰۱۳.

۲۲۵ Interview with ISAF mentoring manager, Kandahar, April ۲۰۱۰; interview with ISAF mentor, northern Afghanistan, July ۲۰۱۲; "Interview with Maj. Thomas Fuller," ibid.

پر بېلابېلو وزیرانو او لوی درستیزانو په پرله پسې ډول تور پورې شوی چې خپلو قومي ډلو ته پر نورو غوره والی ورکوي.[۲۲۶] ژبنیو مسایلو ډېری وختونه قومي ستونزې لا پسې زیاتې کړې دي. پښتانه ځینې وختونه د خپلو دري ژبو امرانو له خوا د پښتو د کارولو له کبله دګل شوي دي ( په ځانګړې ډول په لیکلې اړیکه کې). په ټیټ پوړ کې، هغه سرتېري چې دري یې نشوای ویلای تحقیر شوي دي، چې په دوی کې ځینې ازبکان هم شامل دي.[۲۲۷] د افغان پوځ د دري ژبو سرتېرو له خوا له پښتنو ټولنو سره د مخامختیا پر مهال د پښتو له ویلو انکار یا نه وړتیا هم د شکایتونو لامل شوې ده.[۲۲۸]

په حقیقت کې، لکه څنګه چې د افغان پوځ یوه جنرال ورته اشاره وکړه، د دفاع وزارت او ملي پوځ په لوړو څوکیو د یوه قوم د یوه خېل یا ډلې زیاته ګومارنه په عمومي ډول د نورو خېلونو او ډلو د اندېښنې لامل شوې ده، نو د تاجکو پر ځای پنجشېریان، پروانیان او نجرابیان او د پښتنو پر ځای د وردګو کلمو ته ګوته نیول کېږي.[۲۲۹] د پښتنو په منځ کې د جلب و جذب کچه ډېره نا انډوله ده، چې ډېر جلب و جذب له ختیځ ( ننګرهار، لغمان، خو کونړ نه) نه کېږي او له سوېل، غزني او فراه نه په نشت حساب دی. له بغلان، کندوز او هرات نه په یو ښه شمېر کې پښتانه پوځ ته جذب شوي دي. له لویې پکتیا نه د جلب و جذب شمېر له **۲۰۰۲-۲۰۰۵** پورې ډېر ښه و، خو وروسته کم شو.[۲۳۰] نو هغه ډلې چې په پوځ کې یې ښه استازولي موجوده ده، هغه نه دي چې په ډېر شمېر کې جلب و جذب ترې شوی دی. په عمومي ډول ښو تنظیم شویو ډلو هغه ډېر فرصتونه تر لاسه کړي، چې د سهمیې سېستم وړاندې کړې دي. دا چې ډېرې پښتنې قبیلې په سیاسي لحاظ سره یو موټی نه دي، دوی ته یې لږه ګټه رسېدلې ده.[۲۳۱]

د افغان پوځ په وروستي تاریخ کې داسې تمایل موجود دی، چې ستونزو ته قومي رنګ ورکړل شوی دی. د مسوولو افسرانو له خوا د رخصتۍ په بدل کې له سرتېرو د پیسو د اخېستلو عامې چارې ته ځینې وختونه په قومي تعصب پورې تړل کېږي.[۲۳۲] کله چې نوي جذب شوي کسان د تمې خلاف له سختو روزنیزو کورسونو سره مخامخ شوي، دوی ځینې وختونه خپل روزونکي په قومي تعصب او په دې هڅې تورن کړي، چې ځینې ځانګړې قومي ډلې له دغو روزنیزو کورسونو وباسي.[۲۳۳] کله چې لوړپوړي پښتانه افسران استدلال کوي، چې طالبان باید له تېښتې وروسته په پښتنو ټولنو کې نور پسې تعقیب نشي، دوی ډېری وختونه پر قومي پلوۍ تورنېږي. سوېلي پښتانه پر دې تورن شوي، چې د ځانګړو طالب هدفونو د په نښه کېدو مخه یې نیولې ده. قومي شخړې په **۲۰۱۱** کال کې د ډنډ غورې د پېښې پر مهال هم زیات شول، چې په ترڅ کې یې د افغان پوځ عملیاتو پښتنو ټولنو ته دروند زیان واړاوه. له دې پېښې وروسته د قول اردو هزاره قوماندان پر ځای یو محتاط پښتون، جنرال ویسا پر دندې وګومارل شو.[۲۳۴]

۲۲۶. Meeting with NATO country MoD official, Europe, March ۲۰۱۳.

۲۲۷. Interview with official of international organisation, Kabul, October ۲۰۰۹.

۲۲۸. Antonio Giustozzi, “Auxiliary force or national army?”Small Wars and Insurgencies, March ۲۰۰۷.

۲۲۹. Interview with retired ANA general, Kabul, October ۲۰۰۹; interview with ANA general, Kabul, October ۲۰۰۵; Interview with ANA colonel, Kabul, April ۲۰۱۳.

۲۳۰. Interview with former army general, Kabul, April ۲۰۱۳.

۲۳۱. Interview with retired ANA general, Kabul, October ۲۰۰۹.

۲۳۲. For complaints of Hazara and Tajik soldiers against their Pashtun commanders, see Claire Truscott, “Ethnic discrimination infests Afghan army, soldiers say,” Agence France Presse, ۲ January ۲۰۱۱; meeting with foreign diplomats, July ۲۰۱۲.

۲۳۳. Giustozzi, ibid.

۲۳۴. “Afghan National Security Forces: Afghan Corruption And The Development Of An Effective Fighting Force,” Hearing Before The Subcommittee On Oversight And Investigations Of The Committee On Armed Services House Of Representatives One Hundred Twelfth Congress, Second Session, Hearing Held, August ۲, ۲۰۱۲; interview with ISAF mentor, northern Afghanistan, July ۲۰۱۲.

## ۲.۳ سیاسي ډلبازي

د افغان پوځ د افسرانو تر منځ، په ځانګړي ډول د پښتنو افسرانو تر منځ، یوه عامه ګیله دا ده، چې په دفاع وزارت کې توکمپالنه نه بلکې سیاسي ډلپالنه توکمیز غوره توب پر مخ بیول کیږي.[۲۳۵] د هغو خلکو نومونه چې اخېستل کېږي، عموما تاجکان، هزاره ګان، او ازبک سیاستوال دي.[۲۳۲] خو ځینې پښتانه د پښتنو په منځ کې هم سیاسي ډلبازۍ ته ګوته نیسي:

> که دا ستونزه موجوده نه وای، ولې هغه خلک چې له ما سره یو ځای فارغ شوي په دفاع وزارت کې پر دندو ګومارل شوي، خو زما په څېر خلک چې له جمعیت او محاذ ( تر ډېره پښتون بنسټ چې پخوانی دفاع وزیر وردک ورپورې تړلی و ) سره اړیکې نه لري، ولایتونو او ولسوالیو ته لېږل کېږي؟ موږ یو ځل ولیدل چې زموږ قوماندان ته له پارلمان او نورو ځایونو زنګونه راتلل او ورته ویل کېدل، چې څوک پر دندو وګوماري...[۲۳۷]

د مرکو په ترڅ کې ځینو پوښتل شویو کسانو تور پورې کړی، چې د جهادي مخینې لرونکو افسرانو د خپلو هغو همکارانو فعالیتونه څارلي، چې مسلکي مخینه لري.[۲۳۸] د بېلابېلو ډلو تر منځ رقابتونو په څرګند ډول د دفاع وزارت د لوړپوړو مشرانو لپاره پرېکړې کول ستونزمن کړي دي. دا ستونزې هغه مهال تر ټولو زیاتې وې، چې رحیم وردک د دفاع وزیر او بسم الله محمدي لوی درستیز و. دغو دواړو به اکثر سره د تګلارو او پرسونل په اړه بحثونه کول او ډېر کم به سره موافقې ته رسېدل.[۲۳۹] په ۲۰۱۰ کال کې د کړکېچ نړیوالې ډلې اټکل کاوه، چې د دفاع وزارت په ۱۱۸ لوړو څوکیو هغه افسران ګومارل شوي وو، چې محمدي ته وفادار وو.[۲۴۰] د دفاع وزارت ځینې کارکوونکي پر دې باور دي، چې د وردک او محمدي تر منځ رقابت د ۱۹۷۰-۱۹۸۰ یمو کلونو د خلق-پرچم تر رقابته ډېر ژور و، دا ځکه چې د دوی تر منځ کوم داسې ایډیالوژیکي عنصر نه و، چې دواړه پرې متفق وي.[۲۴۱]

محمدي په ۲۰۱۰ کال کې کورنیو چارو وزارت ته تبدیل شو، خو په ۲۰۱۲ کال کې بېرته دفاع وزارت ته د وزیر په توګه راستون شو. په دغه ټوله موده کې کریمي د لوی درستیز په توګه پر خپلې دندې پاتې شو. که څه هم د راپورونو له مخې کریمي پخوا په دفاع وزارت کې له جمعیتیانو سره ترینګلې اړیکې لرلې، خو داسې ښکاري چې ده او بسم الله له ۲۰۱۲ کال راوروسته لږ تر لږه د محمدي او وردک د ترینګلو اړیکو په پرتله په ګډه سره یو څه ښه همکاري کړې ده.[۲۴۲]

د افغان پوځ په لیکو کې سیاسي ډلبازي د دې لامل شوې، چې دغه پوځ د اړتیا د راپورته کېدو پر مهال هڅکله د ملېشو او ناقانونه وسله والو ډلو پر وړاندې و نه درېږي. همدغسې یوه قضیه د ۲۰۱۲ کال په اپرېل کې په کندوز کې هغه مهال راپورته شوه، چې په ترڅ کې یې افغان پوځ په جمعیت پورې تړلې یوې ملېشې سره له مخامختیا بېرته راوګرځېده.[۲۴۳]

## ۲.۴ د مراتبو د سلسلې پیاوړتیا

دا چې د قوماندې او کنترول هېڅ سېستم پوره نه دی، پر افغان پوځ هم باید د معنوي معیارونو له مخې قضاوت و نه شي، بلکې دا قضاوت باید د هغو مناسبو پرتلنو له مخې وي، چې وخت او ځای ته په کتو یې تمه کېږي. لکه څنګه چې د افغان پوخ یوه روزونکي ایساف افسر په دې اړه څرګندونه وکړه:

> موږ افغان ملي پوځ ته د قوماندې د یووالي او نورو مسایلو په اړه اندېښمن یو، خو زموږ د قوماندې او کنترول خپل سېستم هم ډېر پېچلی او ستونزمن دی.[۲۴۴]

حقیقي مسله دا ده، چې ایا افغان پوځ به د دې وړتیا ولري، چې په زیاتېدونکي ډول په یوه ننګونکي چاپېریال کې پر فعالیت کولو وتوانېږي او په ډسپلین او د یو موټي قوماندې او کنترول له لارې چلند وکړي او په عین وخت کې سیاسي چارواکو ته وفادار هم پاتې شي.

---

۲۳۵ Interview with ANA general, MoD planning, April ۲۰۱۳; interview with ANA captain, MoD, April ۲۰۱۳.
۲۳۶ Interview with ANA captain, MoD, April ۲۰۱۳.
۲۳۷ Interview with ANA officer in Khost province, April ۲۰۱۳.
۲۳۸ Interview with retired ANA general, Kabul, April ۲۰۱۲.
۲۳۹ Interview with ISAF mentoring manager, Kandahar, April ۲۰۱۰.
۲۴۰ Crisis Group, ibid.
۲۴۱ Crisis Group, ibid.
۲۴۲ Interview with senior NTM-A officer, September ۲۰۱۳.
۲۴۳ Dexter Filkins, ibid.
۲۴۴ Interview with adviser to Regional Combat Battle School (RCBS), Shorabak, April ۲۰۱۳.

هغه سېستم چې له ۲۰۰۱ کال راوروسته يې بنسټ اېښودل شوی د تېر هر مهال په پرتله ډېر متمرکز دی. د قول اردو قوماندان له ۲۰۰۱ کال راوروسته نور نشي کولای چې يو ساده بريدمل له خپلې دندې تبديل کړي. پخوا دوی آن د ډگروالانو د تبديلۍ صلاحيت هم درلود. د کنډک قرارگاه دا وړتيا نه لري، چې په خپل سر خپلواک عمليات پلان او اجرا کړي، بلکې د دې کار لپاره يوازې له پورته مقاماتو امر اخېستی شي.[۲۴۵] د قوماندان په غياب کې د هغه مرستيالان په عام ډول له ګامونو پورته کولو او يا پرېکړو کولو ډډه کوي.[۲۴۶]

کله چې متمرکز سېستم په سم ډول پلی شوی، ځينې مثبتې اغېزې يې هم لرلې دي. د **۲۰۱۳** کال به اوړي کې د ازرې عمليات، چې د دفاع وزارت په مشرتابه تر سره شول او د ايساف همکاري پکې ډېره کمه وه او په ترڅ کې يې افغان هوايي ځواک خپله لومړۍ جگړه بيزه دنده تر سره کړه، د بېلابېلو امنيتي بنسټونو له خوا په يوه خوله يو بری وبلل شو.[۲۴۷] دې چارې د **۲۰۱۱** کال په پرتله د پرمختگ ښکارندويي کوله. هغه مهال له کنډکه په پورته پوړ کې افغان پوځ ډېر کم فعال و. هغه وخت د افغان افسرانو پر ځای بهرني مشاورين د پلان جوړولو د ډېرې برخې مسوول وو، که څه هم د مشاورينو دقيق رول د قول اردو د قوماندانانو په پرېکنده توب پورې تړلی و او بېلابېل و.[۲۴۸] خو له دې سره سره، له ۲۰۱۱ کال وروسته شوی پرمختگ ناوخته دی او د **۲۰۱۵** کال له پرېکنده ازموينې مخکې يې د افغان پوځ په ليکو کې د مسلکيتوب د پياوړي کولو لپاره لږ وخت پرېښی دی.

## ۲.۴.۱ وفاداري

د ۲۰۱۱ کال په لومړيو کې ولسمشر کرزي د لومړي ځل لپاره په دفاع وزارت کې د سياسي مداخلې په اړه خپلې اندېښنې ډاگيزې کړې، چې اشاره يې په گومارنو کې د ده خپلو مداخلو ته نه وه بلکې د دفاع وزارت په داخل کې د يوې پياوړې شبکې شتون ته وه، چې په يوه سياسي گوند پورې تړلې چې ولسمشر ته يې وفاداري تر پوښتنې لاندې ده (جمعيت اسلامي).[۲۴۹] د ۲۰۱۲ کال په جون کې نوموړي يو ځل بيا تکرار کړه، چې لکه څنگه چې د اساسي قانون په **۱۵۳** مادې کې ويل شوي، د افغان ملي پوځ افسران بايد په هېڅ گوند يا ډلې پورې تړلي نه وي.[۲۵۰] د سياسي تړاو نښې ځينې وختونه ډېرې ښکارندې وې، لکه کله چې د قوماندان احمد شاه مسعود (د جمعيت گوند يو مشر) انځورونه پر قاغوشونو او آن پوځي موټرو لگول شوي.[۲۵۱]

